«من کان یظن ان لن ینصره الله فی الدنیا والآخرة فلیمدد بسبب الی السماء ثم لیقطع فلینظر هل یذهبن کیده ما یغیظ» (الحج ۱۵).

« هر کسیکه پندا شته باشد که خداوند جل جلاله اورا در دنیا و آخرت نصرت نخواهد داد پس باید با رسنی بسوی آسمان بالا برود بعد آنرا قطع کند پس ببیند که آیا تدبیر او از میان میبرد چیزیرا که باعث خشم اوشد.»

دین مثال کسیکه گمان می کند که خداوند جل جلاله اورا تائید نخواهد کرد و از نصرت الهی مأیوس و ناامید است به کسی تشبیه شده است که با ریسمانی بالا رفته و در نیمهٔ راه با مشقتی روبرو شده است و تصور می کند که با قطع ریسمان از آن تکلیف نجات خواهد یافت بناء در نیمهٔ راه به خاطر نجات از رنج سفر، ریسمانش را قطع می کند که بلا- درنگ سقوط نموده از آسمان بزمین می افتد، آری! این است عاقبت کسیکه در مسیر ایمان، در نتیجهٔ روبرو شدن با دشواریها از جلو رفتن می ماند امید هایش صدمه می بیند اعتمادش نسبت به خدا جل جلاله ضعیف می گردد، و در فرجام پیوندش را با خدا جل جلاله قطع نموده به آستانهٔ دیگری پناه می برد، و از طریق دیگری به سراغ راه نجات می افتد، وتصور می کند که با فشاری وتأکید بر مواضع ایمانی نمیتواند ضامن نجاتش از دشواریها بوده آینده اش را تضمین کند با بریدن از خدا جل جلاله از بلندیهای عزت وشرف به حضیض ذلت وپستی سقوط میکند.

قرآن مجید این سقوط را درجای دیگری چنین توضیح می فرماید :

«ومن یشرک باالله فکانما خرمن السماء فتخطفه الطیر او تهوی به الریح فی مکان سحیق» (الحج ۳۱) .

«وهر کسیکه منسبت به خداجل‌الجلال شرک ورزد پس گویا که فروافتاد از آسمان ، بعد بربایند اورا پرنده گان ویا فرو افکند او را باد درمکان دور» .

مثال کسیکه باخدایش شرک ورزد وپس از عروج به بلندیهای ایمان در نیمهٔ راه پیوندش را باخدای ذوالمعارج بگسلاند، امید-واریهایش به تائید او به یأس عوض شود ودر مقابله با دشواریها بجای استقامت وثبات وپایمردی وسعی درجلو رفتن به عقب برمیگردد، بیراهه میرود وازراه منحرف میشود مثال چنین شخص به کسی شباهت دارد که از آسمانی سقوط می‌کند و بچنگال ومنقار پرند گان شکاری گرفتار گشته وکناری در کمین اند افتیده اختطاف میشود وتند بادحوادث او را چون خس وخاشاک بی وزن وبی مقدار بر روی امواج خود بر میدارد وبه مکان دوری می پراگند .

اری با انصراف وبرگشتن از عبادت وبندگی خدای واحد جل‌الجلال در بند عبودیت وبندگی خدایان ساختگی متعدد رفته به بند گی طواغیت کشانیده می شود و با قطع پیوندش باخدا جل‌الجلال عبداء عزت وعظمت ، به شی سبک وبی وزنی مبدل می شود که دیگر توان مقابله

با طوفان حوادث را ندارد ، بدلیل اینکه وقتی انسان از تائید خداوند محروم شود نمیتواند ولی دیگری سوای او جل جلاله سراغ کند چنانچه قرآن مجید درین زمینه می فرماید :

« وما لکم من دون الله من ولی ولا نصیر » (البقرة : ۱۰۷)

« ونیست برای شما جز خدا جل جلاله هیچ ولی و مددگاری » .

ودرجای دیگر با لحن شدیدتری میفرماید :

« اولئك الذین لعنهم الله ومن یلعن الله فلن تجد له نصیرا » (النساء ۵۲) .

« این گروه کسانی اند که خداوند جل جلاله بر آنها لعنت کرده است وکسی راکه خداوند جل جلاله لعنت کند (از رحمت خود براند) پس هرگز مددگاری برایش نیست » . بد کاری و فساد انسانرا از تائید ونصرت خداوند جل جلاله محروم می سازد و با سیئات نمیشود پناه گاه حمایت وتائید بدست آورد . قرآن مجید درین رابطه میفرماید :

« ومن یعمل سوءا یجز به ولا یجد له من دون الله ولیا ولا نصیرا » (النساء ۱۲۳) .

« و هر کسیکه مرتکب عمل بد شود به آن مجازات خواهد شد و نیابد برای خود جز خدا جل جلاله هیچ دوستی ونه هیچ مددگاری » . علاوه ازینکه جهاد در راه خدا جل جلاله وتائید وپاسداری از اسلام ، تائید ونصرت الهی را میسر میسازد وخداوند جل جلاله وعدهٔ نصرتش را تحقق می بخشد ، گامهای مردان مجاهد را در همه مواضع ایمان استوارتر ساخته به ثبات و استقامت

آنان می افزاید دروازه های هدایت را بروی آنان می گشاید ، به عقیده و ایمان شان تجلی می بخشد چنانچه قرآن مجید درین موضوع چنین خبر می دهد :

« والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا و ان الله لمع المحسنین » (عنکبوت ۶۹) .

« و آنانکه در راه ما رزمیدند حتماً ایشانرا براه های خود هدایت میکنیم ویقیناً خداوند جل جلاله با نیکوکاران است » .

یا میفرماید :

« یثبت الله الذین آمنوا بالقول الثابت فی الحیوة الدنیا و فی الآخرة ویضل الله الظالمین ویفعل الله ما یشاء » (ابراهیم : ۲۷) .

« استوار می سازد خداوند جل جلاله افراد مؤمن را با سخن ثابت (کلمهٔ توحید) درحیات دنیوی و در آخرت نیز ، وگمراه می سازد خداوند جل جلاله ستمگران را وخداوند جل جلاله آنچه می خواهد می کند . »

* * *

یادداشت

د لوی خدای ﷻ په مرسته، دا دی د «سپیدې» په دولسمه گڼه گڼس پورې کوو. دا چې دغه ورځه ادبي مجله به په خپله ټک کاره کې د ترکوبه حده کامیابه شوې وي، دا د ذوق خاوندان او په خبره پوه لوستونکي ویلای شي؛ هسې هم هرځوگه خپل مرغه مرغاچې بولي او هرچا ته د خپلې غرکې تروې خوندورې ښکارېږي. نو که خپل زیار ته په ښه سترگه وگورو، هغه متل به را باندې صادق شوی وي چې کارگر وویل: زما سپین ککیه زویه! او ځینې وویل: زما پستکیه زویه!. که یې په څه نه شهرو، لومړی سوال دا راڅخه کیدای شي، چې نو بیا ولې بې ځایه ستونځې او مصرفونه کالئ؟ او بله تردې مخه خبره زموږ سره د ډېرو لیکوالو او شاعرانو بې شایبه مرسته دي، چې د هر یو د هر مضمون هره کرښه به هیله ده، چې د ټولو جهاد د ادب په تاریخ کې محفوظه پاته وي؛ چې موږ یې د آثارو په خپرولو د ډېر ستر موفقیت احساس کوو او ستر کې ورباندې نه شو پټولی.

د «سپیدې» مجله لکه څنګه چې موږ دلومړۍ ګڼې په سرېڅه کې لیکلي وو؛ یوه ادبي مجله ده او هڅه به کوو چې ژوندی ادب په اسلامي روحیه پکې وړاندې کړو. کوم ادبیات چې د وخت ترجاني نه شي کولای، خوب او رویا ته دېر ورته وي. ژمونږ د وخت تقاضا جهاد دی او ادب موږ باید تر دېره حده مقدس جهاد ته وقف شوی وي.

اوس، چې د مجلې لومړۍ کال په تېریدو دی، باید وګورو چې موږ د دغو اصلونو مراعات څومره کړی دی او ترڅه حده پرمخ تللي یو - یعني د جهاد او اوسنیو حالاتو په اړه ادب مو څه اضافه کړې ده - که نه؟ ....

محترم ناقدان به هم هیله کوو، چې زمونږ خپرونې په دغه معیار وکښي.

موږ ته تر اوسه دېر شعرونه او مضامین رااستول شوي دي، خوځرنګه چې ژمونږ له شرایطو به یو پکې کم و، له خپرولو یې ډډه شوې ده، خدای دې وکړي چې محترم ادیبان وربانديې خوابدي شوي نه وي او په راتلونکي کې هم له موږ سره خپله رابطه جاري وساتي.

البته داسې آثار او مضامین مو هم خواړه کړي دي، چې ځینې خواوې به یې قوي وي او د قوي برخې قوت یې د نیمګړي برخې نیمګړتیا هم جبره کوله.

یوه مجله یا یو کتاب په مجموعي حیثیت کتل کیږي، په

کړنه - کړنه او پاڼه - پاڼه کې یې څوک خپل اهداف نه-شي څایولای ؛ له دې امله یقین لرو چې که د یو-نیم مضمون او اثر یوه برخه نیکرې هم وي، په مجموعي توګه به مو مجله له خپله مسیره نه وي اوښتې ، خصوصاً د پښتو لیکوالانو آثارو یې په درستو نیکرتیا وو پرده غورځولې ده .

د دې لیکنې په پای کې له درستو لیکوالانو، شاعرانو او هر ډول معنوي مرستیالانو څخه شکریه کوو، چې موږ یې په دې لوبه کار کې یواځې نه یو پریښي او په خپلو ښکلو او قیمتي آثارو او پخو لارښوونو یې د « سپیدې » د مجلې معیار لوړ کړې دی .

سید محمود - فارانی

به پیشگاه رسالتمآب

ای مظهر تجلی حق پای تا سرت
افلاک فرش راهت و لولاک افسرت
گرد سپید سم سمند تو کهکشان
سنگ رهت ستاره و جبریل چاکرت
ای شهسوار جادهٔ تاریك روزگار
تاریخ تابناك شد از برق خنجرت
بر قصر و قلب تیره دلان لرزه افتاد
از بانگ لرزه افکن «الله اکبرت»
شاهان فتاده اند به خاك و فکنده اند
گرز گران و گرزن زر در برابرت
ای آستان پاك تو برتر ز آسمان
بگذار تا که سر نهم از دور بردرت

بگذار با تو درد دلی ای پدر کنم
از پشت میله های قفس قصه سر کنم

* *

با دست و پای بسته به زنجیرآهنین
در بین سیاهچال کهن افتاده ام
درخامشی به شیون رنجیر و بانگ باد
شبهای سرد تا به سحرگوش داده ام
نی پرتو چراغی، و نی یار سایه ای
تنها بروی زانوی غم سر نهاده ام
گاهی صدای گریه رؤیا شنیده ام
از باد دشت وچشم به هرسو گشاده ام
گاهی ز پشت پنجرهٔ تار دیده ام
آن زلف را که دل به سیاهیش داده ام
اما قسم به عشق که از خود نرفته ام
چون من نواده توام و شیرزاده ام

ننگ است بهر من که ضعیف و زبون شوم ؟
از نسل مرد باشم و نامرد دون شوم ؟

* *

(*) نام دخترک خورد سال شاعر .

من برزمجوی دین تو ام کی کنم هراس
از بند و مرگ وکنده و زنجیر روزگار
من عاشقم ز راه خطر پا نمی کشم
من صادقم به عهد کهن سخت استوار
من پیر وحسینم لبخند بر لبم
تا پای دار میروم آرام و پایدار
اما هراس میکنم ازاینکه لا اله
خاکم بدیده رخت ببندد ازاین دیار
آزادی و عدالت و قرآن کند غروب
وز مشعل خدا نزند سر دگر شرار
خورشید تو بمیرد درکوهسار ما
پامیر سرسپید شود جاودانه تار

بر کوه صبحدم که زند مژه اختری
نآید ز دره نعره « الله اکبری »

* *

ای مظهر تجلی حق پای تا سرت
افلاک فرش رامت و لولاک افسرت
امشب ترا به نام خدا میدهم قسم
و انگه به گیسوان پریشان مادرت

پیدک

لومړی کال، دولسمه گڼه، ۱۳٦٤ش-هـ، د چنگاښ ۲۰مه
۱۹۸۵م – د جولای ۱۱مه

چلوونکی:
محمد صدیق پسرلی

زمونږ پته:

G.P.O
P.O.BOX NO 665
PESHAWAR
PAKISTAN

بانکی حساب:
الائید بانک - جهانګیر پوره برانچ
اکاونټ نمبر (٤٦٥)

و آن اشک های گرم که هنگام رحلتش
بروی او چکید زدو دیدهٔ ترت

درین بهار هدیهٔ مارا قبول کن
و این ارمغان سری است که مانده است بردرت

نرنجیز من گشا و بده تیغ در کفم
شاید که باز تازه کنم یاد حیدرت

در صحنهٔ نبرد سر از تن بیفگنم
بر خاک پاک میهن خود در برابرت

دیگر زپا و دست من این بند وارهان
تا من نهم بپای تو سر را بارمغان

۱۲ عقرب ۱۳۵۸
کابل
زندان پلچرخی

په وینو رکلوی کې نغښتی څوندونه دی
څانګړي څوندکې پروت څیکرخون دی

هغه قامونه تل ښه یالي دي
چې نړیست - روزګار یې په پیوستون دی

۴-۷-۱۳۶۲
«غږوال»

رحمت شاه - رحمت

غزل به څه لیکمه ؟

رحمت شاه رحمت حساس او با احساسه شاعر دی ، د ژوند اخځلیکر او نقاش شاعر دی خوښ ژبې او پیاوړی شاعر دی ، دی خوښه غزل لیکي ، ښکلی نظم لیکي او په ادبي ښکلکنو پسولي وینا کوي .

رحمت شاه رحمت د کوهاټ په ځښکل ځلوکې لوی شوی او په داسې ادبي ماحول کې یې ادب نه محبت کړی چې د کوهاټ لوی ادیب ښاغلی ایوب صابر یې سرلاری دی ، دده شاعرانه ژوند په ۱۹۶۳ کال نه راپیلیږي او د شاعرانه ترڅنګ د تنقید، طنز او مزاح په ډګر کې هم پیاوړې لاس لري. د ښاغلي رحمت ریښې پښتنه درس او تدریس دی خو د ژبې خوښه یې شعر او ادب دی او په همدې رنګینه دنیا کې یې د ژوند سپرې - تودې تیریږي .

محترم رحمت د افغانانو په درد دردیږي او د کوهاټ په کمپیونۍ د دوی د یې کورنۍ او د ریدرګ صحنې له نږدې څخه وینې ؛ دا لاندې غزل د دوی د همدې پاکې او سپیڅلي احساس یوه دردیدلې نمونه ده چې د سپیدې، له پازې راسپارلې او موښې د دې درد او مینې او لوړې د زړه دلکوي منندکوو !

غواړي یاران را نه غزل - غزل به څه لیکمه
بل د ي اوږونه په کابل - غزل به څه لیکمه

ستا د ښایست په رنګینو غزل ، غزل و زما
نه شته اوس ستا مخ کې هم ځل - غزل به څه لیکمه

د مظلومانو زېرکي اوسرم د احساس په غوږو
کيږي قتلونه پل په پل - غزل به څه ليکه

زه سوچ کومه چې په داسې خوندې ماحول کې
په تورو څنګو، په وربل - غزل به څه ليکه

زما د زړه د ارمانونو چې ليدې شي مدام
سرونه ځوړند په مقتل - غزل به څه ليکه

د حريت ناوې د غيرو غلامۍ کې چېرې -
په لور مې نه کړي چې تکل - غزل به څه ليکه

په خوی - خصلت چې بهرام خان شولو ، زما د فکر
«خوشال ختک» وته «مغل» - غزل به څه ليکه

د چا کاسونه په بمونو - د چا سر الوتې
سوري - سوري خوکې په کوکل - غزل به څه ليکه

په ککړو کې د سحر او د مانبام «رحمته» !
چې د انسان شي وينه څښل - غزل به څه ليکه

فضل ولی ناکام

دا وخت

دا وخت په کومو سترګو پیر خوږ د بهار له پاره
ز مکه خپل مخ شین کوي څنګه لاله زار له پاره
وحشت ځولې پراخه کړې د ټزار له پاره
کړې سیمه والو مو سینې غلبیل ایثار له پاره

له هګامو یې لکه محشر په جهان شور پورې شو
بهاره مه راځه ګلونو باندې اور پورې شو

* * *

نه د سپین غږ چینو له حورې د بګرام راځي
نه یې هوسې وزمو اخیستې په خرام راځي
نه د نرګې له بام د خدای د نور سلام راځي
د بت شکن له کور په چغو دا پیغام راځي

پاڅ چې کرد د بل د پښو زمون په کور پورې شو
بهاره مه راځه ګلونو باندې اور پورې شو

ما د شکست داغونه ایښي د اور رنګ په تندي
ما خپله فتحه نقش کړې د فرنګ په تندي
د قربانۍ د مجدې بشکلي مې دي رنګ په تندي
خپل خو مې خپل دی چې تل اخم د بل جنګ په تندي

دا څل په بل طاغوت زموږ د وینو پور پورې شو
بهاره مه راځه ګلونو باندې اور پورې شو

* * *

د استدلال څخه ضرورت دی د کمون له پاره
اور او پولاد یې وسیله د خپلواکون له پاره
دی مو جوړ بنت ابراهیمۍ په خاک د خون له پاره
په لیلا داو د سردي لوبې د مجنون له پاره

که له ړوند سوالي په مجنون د لیلا پور پورې شو
بهاره مه راځه ګلونو باندې اور پورې شو

* * *

د میرویس کور قیامت راوړونکي هلکانې پاروي
د اسلامي پاڅون سرکښې زمنې پاروي
دا دوران سان فکر پیاده دی پرکنې پاروي
پیغمبرۍ تلې هره تیږه د بخدي پاروي

د حسینؑ خون د امویه کاله په کور پورې شو
بهاره مه راځه ګلونو باندې اور پورې شو

* * * *

ای د حسینؑ په پله روانو هلۍ پل واخلئ
لاره ده لنډه چې سا وانخلئ منزل واخلئ
د ماشومانو بې دفاع ښځو بدل واخلئ
د بخارا د امام پاک مزار مرچل واخلئ

د ژوند قانون د حیدري متو په زور پورې شو
بهاره مه راځه ګلونو باندې اور پورې شو

* * *

روس ورکاوی د خدائ منظور فیصله وکړئ
د احد، بدر تکرار دا معامله وکړئ
دی تجاوز کې شریک شرق و غرب جمله وکړئ
برید د تکبیر د فاع د خدائ خپله وسله وکړئ

که یې ناپالم حقارت څټک او لور پورې شو
بهاره مه راځه ګلونو باندې اور پورې شو

*

سید اسمعیل ـ فاطمی

خپلواکي

خپلواکي د تبغ ځلا ده
خپلواکي د ژوند ښکلا ده
خپلواکي د حق نعره ده
خپلواکي د روح جلوه ده
خپلواکي هسې څپه ده
چې : پاڅون يې ټمونه ده
د هستۍ په لور تکل دی
د منزل خوښه نغمه ده
بد بختي يې غږ کې نه شته
د خوښيو زمزمه ده
د اسيرو هيلو ځواک دی
د واکمن وخت مينه ده
په سکوت کې شور او زوږ دی
په ژوندون کې حماسه ده

د ژوند بقا پکې ده
د ظلمت سره جګړه ده

* *

خپلواکي زموږ په پټ دی
خپلواکي تاج د عزت دی
عاشقان د خپلواکۍ یوو
ټولې قربان به کړو سرونه
د تاریخ ستر امانت دی
ښکلوو بې قدمونه
په ټکولو کې به سر موږ،
د دښمن له سره یوسو
په ټول ژوند کې موږ خپلواك وو،
خپلواك یو - خپلواك به اوسو!

۲۸ کب ۱۳۶۳
کوهاټ کالج
پیښور

امین‌الله ـ احمدی

له ما نور څه غواړې ؟

له ما نور څه غواړې ؟
ستا د کاسه مې پر سر سړې لمبې بلې دي .
له وراسنی کلیو-کوڅو مې په وینو لړلې جسدونه را وڅې
او سوې کړوندې مې هغه ټوپ لوګې ته ګورې ، چې له
زړه یې خیژي .
تا د خپلې خلخانې بچیان په هغو سړو لېوانو وخوړل
چې ته یې وژلو ته څرولی او ساتلی یې .
هغوی ظالمان هریو ستا د خپلخانې بچیان یو سحر او
بل مابنام خوړې . خو ته په مړو سترګو وړته ګورې
او هیڅ هم نه وایې .
هغوی زما په غېږ کې سوزل شوي زامن د غربت په
دښتو کې لالهانده کړل .. خو تا غوښونه کاڼه کړل او د
بوسو - وساسو او ماشومانو چیغې دې نه واوریدې .

ای نامرد دوه بوله !
آخر ولې مې د مظلوم ولس د غاړې په مړه باندې په

دا سې وخت کې پښه ږدې ، چې د ځنکدن سلګۍ يې دې او ته غواړې دا آواز هم څوک واښه وړې . . . .

آخر ولې ؟

مګر ته نه پوهيږې، چې : بدان مړي، خو بد نوم يې نه مړي - غلامان مړي، خو د تندي داغ يې پاتيږي .

او :

شهيدان نه مړي، او نه يې د جمال او جلال ترانه غلې کيږي !

په سپينه ږيره چې څوک پيکار کا
هر يو ويښته يې رب ذوالفقار کا

هر حرکت يې زلزله خيز شيّ
هره خبرې د اېتم کار کا

کابل : ۵۷/۱۰/۲۷

فهرست

نمبر	مضمون	لیکوال	مخ
۱	تفسیری از آیات قرآن حکیم	-	۳
۲	یاد داشت		۱۴
۳	بر پیشگاه رسالتمآب	فارانی	۱۷
٤	غزل بسر څه لیکه ؟	رحمت	۲۱
٥	دا وخت	ناکار	۲۳
٦	خپلواکي	فاطمی	۲٦
۷	له ما نور څه غواړې ؟	احمدی	۳۸
۸	... او کوشه هم په وینوسره وه	ذبیح الله	۳۰
۹	وړه بنا پیړۍ	پسرلی	۳٦
۱۰	د بنکلي آمو په غاړه	غضنفر	٤۷
۱۱	زنګونه او ټکانونه	ستون	٥۸
۱۲	کوچنی بم	شفیقی	٦۳
۱۳	دوییتی ها	دهاتی	٦۸
۱٤	لنډی	-	۷۰
۱٥	ترانه	غروال	۷٦
۱٦	لویه جرګه (؟)	غروال	۷۹
۱۷	د افغاني مجاهد چیغه	افکار	۸۱
۱۸	تن او وطن	همکار	۸۳
۱۹	ژړېدلی ارمان	نشار	۸٤
۲۰	د مینې تور	پتنګ	۸٥
۲۱	چا راته ووې !	ساهو	۸۷
۲۲	هجران وطن	پسرلی	۸۸
۲۳	دیوه روسی عسکر لیک	(ژباړنه)	۸۹
۲٤	مست سخوندران	پاسنی	۹۱
۲٥	کتاب های تازه	ستون	۹٥

... او کوشې هم په وینو سره وه !

د لمر تودو وړانګو د وړوکی غلام‌خان نور د وړکتوب د بې‌غمۍ خوب ته پرېښنود ، له کټ نه یې راټوپ کړ ، سترګې یې مښودې ، د بلې له سر نه یې غږ کړ : « ابه ! سوکړکان دې پخ کړي دي ؟ » ، محبوبې تروس په مینه وړته وویل چې : « ته خو راکوز شه بچې ! هرڅه تیار دي ، تاته مانله دي ، مهه ماما به دې درته په کار کې ناست وي ، هله زر کوه » . غلام‌خان په هله - هله د بلې له سر نه په خپښه زینه راکوز شو او د کور غاړې ته یې مناوه کړه ، چې مخ او کاس پرېمنځي ، لپه نیه به یې مخ ته اچولې وه او یا نه ، د پس زر بېرته راستون شو محبوبې تروس په تبې دوه غټ - غټ سوکړکان پخ کړي وو او درې‌یم لا پوخ نه و ، چې غلام‌خان وربانديې چیغې کړې : « دا دې لا نه دي پخ کړي ، په ما دې ناوخته که ، زه یې اوس نه وړم او... او... او.... » او بیا مروړ غونډې دېوالې ته ودرېده ، مور یې وړته وویل چې خه ته د کاري لاسنديې نه د شومړو لوټه راواخله او دغه دی مابه درله

سوکړکان په خادرکې تړلې وي ، خو غلام‌خان همداغسې شونډې بوختې نیولې وي او له ځایه نه خوځیده، محبوبه ښرور ښې ډېره ځان - صدقه شوه ، خو چا ته یې ولې، چې په دې هم ونه شوه، نو وېرته یې وویل چې نه یې وېرې نو ماما به دې د کارتوسو تشې کولې بل چاته وېرکړي، د محبوبې ښرور دا آخري چل و، چې غلام‌خان به یې پرې ټغلا کاوه ، کنې هغه خو دومره نازولی و ، چې یو ځل به یې «نه» کړه نو بیا پرې چا «هو» کولی نه شوه .

د کولو په اوریدو د غلام خان مزاج لږ ښه شو او کاري ته ورغی . آدم خان اکا هم مېښه له موښې راپرانسته، پرې یې له غاړې وېرچاپېر کړ او ودریده چې وېروکی غلام‌خان په مېښه سپور کړي ، نو بیا به په کلاړه د ټمکو چلم وڅکي.

غلام‌خان د شومېرو لوټه د موړ خولې کښېنوده ، محبوبې ښرور د سوکړکانو خادر د غلام خان ښ ملا کلک وتاړه ، غلام‌خان د موړ کړو - وړو ته ځیر - ځیر کتل خو څه یې نه ویل چوپ ولاړ و ، هسې به یې له ملا نه په راتاو شوي خادر کاس وواهه، تا به ویل چې د ګردنې ټسل پرې کوي. محبوبې ښرور غلام‌خان په شا وډباوه ، ویلې څه چې ببرته راځې نو د شیدو کټوکه به مې درله تیاره ساتلې وي ، غلام‌خان لوټې ته کاس کړ او د پلار خوا له ورغی ، آدم‌خان اکا په

ډیره مینه په مینه سپور کړ او ورته یې وویل: چې هغه ماما ته مې دې سلام وایه، او ګوره که چا درنه پوښته وکړه، چې دا شومړې چیرې وړې؟ نو ورته وایه چې له فیروز اکا کره یې وړم، بل څه به نه وایې!

د فیروز اکا یوه مینه اودوه غواکانې څه موده مخکې جهازونو په بمونو الوزلې وې، د هغه به آب و دانه په دې دنیا نه وه خته شوې ځکه ترې روغ پاتې شوی و، کښې د جوارو په پټو کې د جهازونو نه بچ کیدل د نصیبونو خبره ده په خواوشا کلو باندې به جهازونو کله- ناکله ناڅاپي غوټه کړه او چې څه به یې له نظره شول، هغه به یې تباه کړل خلکو ویلې چې دا نو پیلوټانو ته چل ورښیي.

غلام خان په مینه سپور له انګرې و ووت، د شومړو لوټه یې په وړو- وړو منګولو کې کلکه نیولې وه، تلوار یې و و چې کله به چیناري ته ریې، چې ماما یې د کارتوسو کولې وکړي د بنا یسته- بنې مودې راهیسې د غلام خان دا کار و، چې د شومړو لوټه او سوکړکان به یې چیناري ته راوړل او هلته به ترې د مجاهدینو استائي اخیستل، د غلام خان ټوله خوشالي هدا وه چې هغه مجاهد به ورله د کارتوسو تشې کولې ورکولې او دې به ورته له خوښۍ نه په جامو کې نه ځایېده، د مجاهد کردنې یې ډېره خوښه وه، ځکه چې هغه به یې کې د خپلې خوښې کارتوسو کتارونه لیدل، کله- کله خو به یې مجاهد ته

وویل، چې ماما! یو دغه کارتوس م راکړه. محمد په پېښندا
ټال وېسته، چې بچی! دغه کارتوس دکشرانو دی اودا دمشرانو،
ته به په دې څه وکړې؟ غلام خان دلته خپل نانړ-نخرې نه-
شوې کولې، نو ځکه به غلی شو، کنې په کور کې پې داسې
څه نه وو، چې هغه غوښتې وای او محبوبې تر ور نه وای
ورکړی، آدم خان اکابه ورته کله په غوسه شو چې دا هلک دې
پې کار کې، دومره پې مه نانړوه، خو چاته پې وایې، هدا یوه
د رهند و سترګې اوښه خدائ راپاتې کړېده، نو ځکه به نه و
نازولی، محبوبې تر ور پرې سوونه نذرونه منلي وو، دوارو
مټو پورې پې ورله تاویزونه تړلې وو او خدائ خبر چې چا-
ورته ټوټکه ښودلې وه، چې داسې ایکې یوه نرۍ له خلک کوڅه
پرېږدي، چې خدائ فی ورته پاته کړې، نو پې ورله کوڅه هم پرېښې
وه، ټول سر به پې ورله وخړېږه، خو کوڅه به پې د برکت له پاره
پرېښوده، غلام خان دلس-یوولسو کالو شوې و، مګر مور پې
اوس هم په وېره کې وه چې مرګ تړې دا ایکې یې نرۍ هم دهغو
نورو په شان وانخلي، د هغې پنځه اولادونه په وکټوب کې مړه شوې
شوې وو، له کال. نه به پې ماشوم نه تېریده، بس دا یې
غلام خان و، چې خدائ ورته پاتې کړ، او هدا د دوی د
ژوند و نو خوشالي وه او د ارمانونو ځلی و. او اوس خو ورته
من- من غټیدل چې غلام خان خدائ دومره کړ، چې مینه
هم د پوولو له پاره بېولی شي.

څو ورځې مخکې په مخامخ ځړه کې د مجاهدینو یوه ډلګۍ مېشته شول ، د خوراک ، څښاک بندوبس هرچا ترخپله وسه پورې په غاړه واخیست او په پته به یې مجاهدینو ته رساوه ځکه په سر کلي کې د ملېشو پوسته وه او په کوز کلي کې هم یو- نیم جاسوس پیدا شوی و ، چې پوستې ته به یې خبرونه ورسول . نو فیصله په هدې شوه چې هر سړی دې په خپله پته-په- پته مجاهدینو ته خوراک ، څښاک رسوي مجاهدین دې کلي ته ځه راځي ، ځکه چې د جماز ونې نه خو هسې هم په تنګ وو او که چا د دروغو خبر ورکړ چې دلته مجاهدین راغلي وو ، نو ولاړه لوټه به پرې نه- ږدي . آدم خان اکا دېر د کړځیدو- راکړځیدو نه و ، نو ځکه یې د شومړو او سوکړکانو رسول د غلامخان په غاړه واچول ، هغه خو هسې هم مېنه د پووانې له پاره ښوله ، نو «هو» «نه» یې پکې و نه کړه او اویس خو یې په خپله خوښه دا خدمت کاوه .

خیر ، غلام خان چیناري ته راورسید ، مېنه یې د چینار زهې وني خواته راښکاره کړه او لوټه یې د چینار په ډډ کې کښېنوده او بیا یې د مېنې له شا نه د چینار تنې ته کاس ورواوښت کړ ، او ورپورې ځوړند شو ، د هغه ولاړه ذهن د مېنې له شا نه د کومې بلې شې کار پیدا کړې وه ، خواشا یې وکتل د ما ما یې درک نه و ، جوار تازه څنه- بمبل وو ، که

څوك نژدې راروان هم واى ، نو نه لېدل کېده ، مېښه د وياړې په غاړه ځړېده او غلام خان هم له جېبه د کارتوسو کولې راواېستې او په لوبو شو ، سوکړکان يې لا په شاپورې ټرلې وو ، چې په دې کې په مخامخ پوله د مجاهدينو استاځى راښکاره شو غلام خان يې په لېدو لکه کل وغوړېده او وېرمنده يې کړه وېلې، ماما ! شومره‌يې مې ... او د دې سره د شا له‌خوا پټې نه د ماشېنګنو خولو اوږ راتوى کړ ، غداراتو غدارې وکړه ، خاينو او وطن پلورو کوټې ماشې راښکودې په وسوکې غلام خان يې هم اسره ونه کړه ، د ماشېنګنو بخو د مجاهد ماما په سينې پورې وکاندې .

دواړه غبرګ پراته وو ، د غلام خان ترشا ټرلې سوکړکان غلبېل- غلبېل وو ، د کل په شان وجود يې پاڼې- پاڼې شوې وو سرې- سرې او وړې- وړې پاڼې . په لاس کې يې د کارتوسو کوله له وينو وکه شوې وه ، او کوڅه‌هم په وينو سره وه !

پکتيا په وينو بيا تکه سره شوه
اوس پکې بل دى ، يوه لمبه شوه

چيغې- سورې دى ، د حق ناړې دي
په ملحدانو بيا توره شپېره ده

۳ - ۱ - ۱۳۶۳
«غرزال»

وړه بنا پېړۍ

فتح خان هم يوه وسړی د ډلې مجاهدينو سره د ميرانشاه له کمپ راوړسيد ، کوټې ته ئې د ګډ کړه په کمپ کې و .

موږ ، خو او کشری وړوکو ته يو کال پخوا ټر دغه ځايه ړسولي او دی بېرته له مجاهدينو سره تللی و . دا يو کال ئې په ته نه لګيده، چې مړ دی- ژوندی دی ؛ چېرته دی او څه کوي ؟

دده په زانګ واړه کاله ته د خوشالۍ يوه لنډه څپه راوړسيده ؛ لنډه ځکه چې پټي خان نور هغه پټي خان نه و چې کوږ- اوږ سنبال کړای شي او د خپلو او موږ ژوند وساتي .

پټي خان نه ګودډ و - نه ړوند و - نه ئې کوم بنکاره پرهر په وجود کې ليدل کيده . اما هوش او فکر ئې په بله و ، نه ئې خو ته پام و - نه مورته ، نه ئې په خپل کشر وروړ مينه کوله - نه ئې د سبا غم درلود ، په پته

خوله به ووت ـ نشووت او چې ناست به و م ، فکر به يې په بل عالم کې پېښګې خوړې .

يوه د ځلورو ـ پنځو مياشتو ماشومه يې وړسره راوړې وه ، چې ده به بناپېرۍ بلله ، ډېر وخت به يې له بناپېرۍ سره اړ وه ، چې بناپېرۍ به ويده وه ، دې به ورته ناست و چې ويښه به وه ، ده به يې خوا پورې مينولې بهر ته به يې وايستله ، دهغې معصومانه خندا ته به يې وړو وړو ژړل .

هيڅوک نه پوهيدل ، چې بناپېرۍ څوک ده ، له کومه يې راوړې ده او د ده وړسره څه خاصه علاقه ده ؟ . . . .

د پټې خان په بنکلې ځوانۍ او بنه کړه ـ وړه ، خپلولي سر او خېرنو جامو ، خاورې دوړولې ، چې هرچا به ولېد ، خوا به يې ورته شنه کېده . دې پخوا داسې نه و ، نه بنکارېده ، چې څه کوډې وړباندې شوې دي ؟ نه ده خبرې کولې ـ نه يې ملکرې په راښ خبر وو .

بناپېرۍ بنه سوزلې کېده ، هوا هم بده نه وه پرې لګېدلې د خور او مور يې هم وړو ـ وړو مينه وړسره زياتېده ، مور ته به يې کله ـ کله دا اند ښکته پېدا شوه ، چې ممکن پټې خان پټ واده کړې وي او له لېونۍ مينې دغه بناپېرۍ ورپاته شوې وي .

ابۍ په هغه نېستۍ او پردېسۍ کې خپل ځوان زوی ته ډېر د مونه ـ تاويزونه له يو ځايه ـ بل ځايه راوړل ، خو د پټې خان

وضعه نه بدليده .

هغې په مياشتو بدلې شوې ، ژمې پسرلې ته او پسرلې اوړې ته ځای پرېښود ، بناپېرې د خاپوړو شوه، تر پټې خان به د ابې او د پټې خان د خور او کشري وروره غږې کې خوشاله وه ؛ ځکه چې هغوی به ورسره لوبې کولې او پټې خان به په خوله ورته ژړل .

په ماشومې بناپېرې داژوړ کورکې روښ شوی و ، کله-کله به د دې په معصومانه حرکاتو د دوی د خندا بوغ ، د دوی تر تامبو بهر هم ووت ، د کاونډ يانو يقين و، چې ماشومه د پټې خان لور ده ؛ خو چه موږ به يې څه شوې وي ؟

د بناپېرې کړه-وړه هم تر ډېره حده د پټې خان غوندې و ، خصوصاً سترګې يې کټ-مټ د پټې خان سترګې وې ، منتها په دې تفاوت، چې د پټې خان پهسترګو د حسرت دوړې غرېدې او ناامېدۍ ورځنه لمبې شوځې او بنکلا اخيستې وه او د بناپېرې لېمو لا ژوند ته په سادګۍ خندل .

* * *

مازيګر چې لمر د شمشاد خوکې ته سر ټيټاو ، د پټې خان-دوی د تامبو سره جوخت تامبو ته د کور خاوند يو ميله راوست ، ميله ځوان او د ولځ سړی و ، داسې بنکاريده چې نوی راغلی وي . په دې وخت کې پټې خان د خپلې خيمې سيوري ته بهر له بناپېرې سره مشغول و ، ميله له سلام ورسته

یو- دوه ځلې بنا پېړۍ ته وکتل ، بیا یې لیونې پټې خان ته، چې بیا یې بنا پېړۍ ته وکتل ، ویې ویل : ځوانه! دا دې لور ده؟

پټې خان وویل : لور ؟ زما ؟ هو ! لکه لور چې مې وي .

هغه وویل : څه نومیږي ؟

ده وویل : نه پوهیږم ، ما ته خو بنا پېړۍ بنکاریږي.

مېله ته شک ور پیدا شو بیا یې وپوښت : ولې نه- پوهیږې ، په کار کې خو به دې نه وي موندلې ؟!

پټې خان وویل : په کار کې ؟ هو ! په کار کې، نه- نه ، په کور کې وه ؟ په رنګ او لوګ کور کې .

د مېلې اشتباه نور ه هم زیاته شوه ، بیا یې وپوښت:- نور اولاد هم لري ، که دې دغه یوه لور ده ؟

ده وویل : زه اولاد نه لرم ، واده مې لا نه دی کړی.

هغه وویل : چې تا واده نه دی کړی ، دا دچا لور ده ؟

ده وویل : دا بنا پېړۍ ده ؛ د ارم بنا پېړۍ ، د بنا پېړۍ لور د داور ینو غږونو د سر و او ر ښو چینو د غاړو بنا پېړۍ ....

په دې وخت کې کور به، مېله ته وویل : رحیم خانه ! راځه، ځای درته جوړ شو .

رحیم خان زړه- بې زړه روان شو ، په ټک- ټک کې یې

تفسیری از آیات قرآن حکیم

بسم الله الرحمن الرحیم

« سیهدیهم ویصلح بالهم ○ ویدخلهم الجنة عرفها لهم ○ یا ایها الذین امنوا ان تنصروا الله ینصرکم ویثبت اقدامکم ○ (محمد: ۷) .

« هدایت شان خواهد کرد . وحالت شانرا بهتر خواهد ساخت . وایشانرا به بهشتی می در آرد که برای شان معرفی کرده است . شما ای کسانیکه ایمان آورده اید اگر خدا جل جلاله رایاری کنید نصرت دهد شمارا و استوار سازد گامهای تانرا » .

تفسیر : در آیهٔ چارم سورهٔ محمد بجاودانگی اعمال شهید راه حق اشاره شده که در شمارهٔ قبلی بشرح آن پرداخته شده - و اکنون به شرح پاداش شهداء که در آیات فوق سورهٔ مذکور بیان شده می پردازیم :

مفهوم شهادت در راه خدا جل جلاله به هیچ صورتی چنین نیست که قربانیهای آنان به نفع خود شان نه ، بلکه صرف برای کسانی نافع است

شا - شا ته کتل ، پام يې د بنا پېرې په لور و ، پښه يې د خپې په مراندو کې بنده شوه او پرمخ وپروت ، کوربه ترمټ و نيو ، چې راپورته يې کړ ، او جامې يې له خاورو ورو - وخنډلې ، ورته ويې ويل : ژوبل خو نه شوې ؟

رحيم خان په نيولي بزغ ورته وويل : نه ، خيريت دی نشکرې !

چې د خپې خوا ته په غوږيدلي توشک کښاستل ، کوربه ورو غوندې ورته وويل : له لېوني سره دې څه خواله وو ؟

رحيم خان ورته وويل : ربښتيا ، دې لېوني وادې کړې دی ؟

هغه وويل : موږ خو يې د وادې څه نه دي اوريدلي .

رحيم خان بيا وپوښتنه : نو ، دا لور يې ؟

هغه وويل : يو کال جهاد ته تللی و ، کور يې زموږ په خوا کې و ، نه يې د وادې خبره وه - نه د کوژدې ، خو چې کال پس ته راغې ، دا انجلۍ يې په غاړه راارولې وه .

رحيم خان وويل : تاسو ته څه وايي ، چې دا مې له کومه راوسېده ؟

هغه وويل : موږ ته هېڅ هم نه وايي ، مجذوب غوندې سړی دی ، اکثر انجلۍ ته ګوري او ورته ژاړي ، نه پوهېږو چې کيسه څه ده ؟

رحیم خان وویل : له مانسره خو یې څه-څه خبرې وکړې که ورځو - ورځو وبرغول شي ، بنایي په کیسه یې پوه شوو .

کورنیو وړته وویل : د لیونو به هغه کیسه څه وي، پیټې تږې ټولول په کار دي ؛ که څه هم دې نیوو یې آن اړه لیونې دې .

د رحیم خان ستونې ته غږونه ودریدل ، په دې ټکلیف یې په نیولې نږغ وویل : زما ماشومه حلیمه کټ-مټ لکه دغه د لیونې بنایښه دغسې وه ،او ده هم واده نه دې کړې څه وایم؟....

کورنیو ته هم سودا ور ولویده ، پاڅیدل ، لیونې یې راوست، بنایښه په کښلم یوه خوا - بله خوا خاپونې کولې ، کله به یوه ته ورغله کله بل ته .

رحیم خان وړته په حسرت کتل، او د خپلې حلیمې مینه یې پرې ماتوله .

لیونې په خپلو اندښنو کې ډوب تللې و : څه شیبه وروسته رحیم خان وپوښتل : ځوانه ! چاړته دې جهاد کاو ؟

پټې خان ورته وویل : په کندز ، چاردره او قلعهٔ زال کې .

هغه وویل : بنایښه هم هلته درسره وه ؟

پټې خان وویل : بنایښه په خپل کاله کې وه ؛ له خپلې مور نیا او نورو سره .

هغه وویل : نو اوس یې مور، نیا او نور سکښې چاړته دي ؟

پټې خان وويل : ممکن د جنت په باغونو کې به لکه سپين وزرې پټنګان ،ګل په ګل ګرځې او د بنايست په سمندر کې به لامبې ....

هغه وويل : ولې ، مګر هغه مړه شوې دې ؟!

ده وويل : هو ! هغه درست وژل شوې وو .

هغه وويل : په لوګر کې نه و وژل شوې ؟

ده وويل : د لوګر د ولايت په يوه بنګلي کلي کې د لوبې لاږې خواته .

د رحيم خان نوکره هم په غوږونو کې ازانګه شوه ، له يو ملټ سکوت نه وروسته يې وويل : ستا کور په لوګر کې و ؟

ده وويل : زه له کندز څخه راتلم ، قسمت وربښکرم.

رحيم خان وويل : دا سې بنګاړې چې زموږ په وران شوې کلي راپښې شوې يې ، او يقين لرم ،چې ستا بنايڅرې هغه ځما بې موږه شوې حليمه ده .

پټې خان لکه له خوبه، چې راويښې شي، يوه خوا- بله خوا يې وکتل او بې اختياره يې وويل : ته، دهغه کلي يې ؟!

رحيم خان وويل : هو ! زه د هغه کلي يم ،کوم چې روسانو قتل عام کړ او دا ځمالور ده ،چې اتفاقاً ژوندۍ پاته شوې ده . موږ چې د پښې په سبا وړغلو او مړې مو ښخول ، دماشوم حليمې پته نه وه ، نه پوهيدم، چې روسانو

به وړې وي - که لږوانو ؟

د پټې خان له زړه او ذهن نه، په سترګې رپ کې ډيرې ټوړې پړدې، لږې شوې ، سترګې يې وخليدې او په ډيرې خوشالۍ يې خپلې مور ته ورنارې کړې : ادې - وا ادې ! راشه، وګوره ، د بناپېرې پلاس راغلی دی ، اوس به مې خوښه بناپېرې د يې کسې احساس نه کوي .

مور يې د زړې په آواز په منډه ورغله ، خوشاله شوه چې زړې يې له خو مياشتو وروسته سروغ ليده .

بناپېرې په منډه ورغله ، د ابه په غېږ کې کښاسته .

پټې خان په خبرو راغلی و ، ويل يې : ادې ! کيسه داسې وه ، چې زه له خو تنو مجاهدينو سره راتلم ، چې کله لوګر ته راورسيدو ، مازيګر مهال و ، دري- څلور الوتکې راښکاره شوې مونږ له کاريې يوې بلې ډډې ته شوو ، څرخې الوتکو په مونږ د ډزو باران راپرېښود . زه په يوه وچه ويالې کې وغزيدم نور ملګري شله په شله شوو ، چې کله الوتکې کاږې ، زمونږ دوه - دري تنه شهيدان شوي ، يو- دوه زخميان وو ، کلې لږې او وخت لنډ و ، شهيدانو ته مو يوه کنده پرې کړه او خاورو ته مو وسپارل ، زخميان مو د نسبتاً نږدې کلي په لور واخيستل ، چې څه کار کاږه ، مابنام تياره شو، په تياره کې بيا را باندې ډزې وشوې ، نه پوهيږم، چې څوک به وو او څه به يې غوښتل ، له مجبوريته بيا سره خواره شوو.

چې د زړې کړاوېدې ، زه له یارانو بېل شوی وم ، نه پوهیدم چې دوی په کومه سم شوي وو او نده په کومه روان وم ؟ د دښمن له وېرې د بیا کړځېدو او په دوی پسې د لټې امکان نه و ، په خپله مخه لاړم ، یو وخت بنایي یوولس-دولس ببرې به د شپې وې ، چې نده په یو واړه کلي وربرابر شوم ، چې ور ورسېدم ځینې کوروڼه سوي او ځینې وران شوي وو ، داسې ښکارېده چې پېښه هم بس په دغه ورځ شوې وه ، یوه خونه راته روغه ښکاره شوه ، چې ورننوتم او د لاس بتۍ مې ولګوله ، په سترګو مې تیاره شوه ، یوه خوا بله خوا مړي پراته وو ، وا هې واخیستم ، چې تري راوتم د ما شوم ژړا مې واوریده ، بېرته وروګرځېدم ، چې کتل مې د شهیدې مور خواته نجلۍ ژاړي ، بله چاره نه وه ، مړي مې په خدای ﷻ وسپارل ، نجلۍ مې راواخیستله او راووتم ، نه پوهیدم چې دا نجلۍ څه ډوميږي ؟ د چا لور ده او بل به هم څوک لري-که نه ؟ . . . .

په دې تکلیف مې یوې بلې آبادۍ ته راورسوله. له هغې ورځې راپه دې خوا مې بنا پېرۍ بولم . بنه شو چې ته راغلې ، اوس به مې هلوڅه سپک شي او جهاد ته به خلاص یم ، تر اوسه بنا پېرۍ یو الهي امانت و ، چې پالنه یې ما په ځان فرض ګڼله . له بلې خوا چې دې ته به مې کتل ، د دې په بې کسۍ او مجهولې آیندې به

سوځېدم ، نه پوهيدم، چې څه ووايم، چې دا دچا لور ده له کومه مې راوړې ده ، ممکن د پېرو ته د يوې غير مشروعې مينې نتيجه بشکاره شوې وي ، چې طبعاً دا تور په اينده کې د دې په روحياتو بده اغيزه کوي .

ما به فکر کاوه، چې مټر خپله وسه پوهې به يې کوندې وساتو او ممکن، چې وس مې بر شي ، چې څه ليک - لوست هم ورباندې وکړم ، ليکن دا به خرګنه ثابتوم چې دا د يوې شريفې اما مظلومې کورنۍ وروستنۍ ډېوه ده ، چې مورنۍ - نيا - نيکه او نور يې درست د خدايۍ په لار کې شهيدان شوي دي . زه د بنا پېرې معصومانه نګاه او بې آلايشې خندا ليونی کړې وم ، په ما يې هر څه هېرول . . . .

رحيم خان ورته وويل : تا ته دې خداى پاک اجرونه درکړي له ما سره خو فعلاً له شکرې او دوعا پرته هيڅ معاوضه نه شته ، کور دې په لوى خداى ودان، اوس دې خوښه، چې نجلۍ راکوې - که يې ستنوې ، له تا سره هيڅ دعوه نه لرم .

پټي خان وويل : په هر حال، چې ته خوښې يې ، زموږ سلا ده ، که دې لور در سره بوځي ، البته څوونخته به مو اند ښنه وي ، يا ديرې به مو ، که يې پرېږدې ، په ساتنه يې نه ستومانه کيږو .

د رحيم خان کورته وويل : رحيم خانه ! که ښه کوې ، نجلۍ مه بې ځايه ځوه ، اصلي مور او نيا د روسانو نارواي تري واخيستل ، له فرعي خور او مور يې ، ته مه بېلوه ؛ علاوتاً ، ته يو سړ سړی يې ، چېرته به يې درسره کړځوې ؟ ....

رحيم خان ومنله او نجلۍ يې ور پرېښوده له

ټول د وطن بې راشو ديارد کړ په "چين"
بيا بې تخم پکې وکاره د "مين"

مايې هم "مينک" لکه مېړې قربانې کړې
کوندې خو بې شي ادا د دوستۍ دين

کوټه - ۳۰-۳-٦٤
"رفيع"

په ځای کې کښاستل او يوه لنډه غافليدل
لوی جرمې کړې چې څوک قيام لري په مخ کې

په دار باندې ځړول کړه په تال باندې ځړول کې
هغوی ته چې هدف لري - مرام لري په مخ کې

کوټه - ٦-٤-١٣٦٤
"رفيع"

غضنفر

د ښکلي آمو په غاړه

زه (ښين کل) او دی يې بيخي غافله و موندلو. موږ دا ګومان نه درلود چې روسان دې دا ځنګل تر بمبارد لاندې راولي.

په هغو شپو کې کابو نيم ټخار محاصره و، هره ورځ به روسانو کله يو او کله بل کلی تلاشي کاوه او چې په چا به يې د مجاهد شک راغی، نو سمدستي يې واژه.

زه او حليم به سحر په سپيدو کې د ځنګل لورته روان شوو. د سحر لومړۍ به مو د آمو غاړې ته ورساوه او تر مابنامه به هوريې وو. مابنام به له ځنګله ځغه ببرته کليو ته راغلو، ځکه يو خو هلته شپه نه ښې کيدی او بله دا چه عموماً په ټياره کې روسان عمليات نه کوي او په خپلو ځايونو کې غلي پراته وي.

« حيرتان » د پر لوی ځنګل دی، کابو شپږ-شپږ نيم زره جريبه، زمکه ده. دلته چې ځوک د پر بلد نه وي، نو سيروينې ته زړه نه ترې. يو خو له ځناورو او خصوصاً خوکانو

وښه په کار ده، او بله داچې سړي پکې ژر لاړه ورکوي . د ځنګل ډېره برخه اوبو نیولې ده او په اوبو کې کاڼي راوښېدلي دي . په وچه کې یې د غزو او سپېڅلو وني لاړې وي . دا ټول ځنګل په ټیټه کې دی او داسې معلومیږي چې یو وخت به آمو دلته بهیدو او دا یې کاسه وه .

زموږ کوروڼه چې کله په "ښکلي قلعه" کې وو، نو زه او حلیم به ځنګل ته ډېر تلوو . د هغه له ښکاره سره جوړه وه ـ او زما له تنهایۍ او سکوت سره . دلته سپین غاړې کاڼي او ښامه توري، چې موږ ځلک ورته سارکي وایوو ـ بې حده ډېرې دي . مګر دا مارغان مازیګر مهال په کلیو کې هم کم نه وي . حیرتیان ته اصلاً ښکاریان د دشتي مرغانو په ښکار پسې راځي، چې غنیمه یې خوراخوندوړ ده او حلیم خو یې په کبابولو کې استاذ و .

د جوزا په میاشت کې دسپېڅلو وني ګل وکړي او دا سې خوشبوي ځنې راخوریږي، چې سوغ سړې لېونی کړي ـ د ځنګل دوبي ټول خوندور دي خو مني یې بیا ښه خوند لري . په میزان کې د غزو وني لکه د ارغوان سوره ګل راوړي ـ او د دې ګلانو عکس په آمو کې داسې ښکاري "لکه سره بارخوچې ایسي په خولو کې" .

که ښځتیا درته ووایم چې چېرته لوی شوی یې، نو له هغه ځایه به دې زړه نه ځي . زموږ کوروڼه لا دوه-درې

کاله د مخه « زاړه بغلان » ته په لېښلو مجبور شوی وو خو نه ما او د حلیم هلته ټیکه نه کیده . پلارمې د پس راته وویل، چې بغلان هم خپل ځای دی، کورونه مو هم اوس دلته دي او جهاد هم دلته بنه کیږي . مګر ما د حلیم خبره خوښه کړه او د پلار واله مې ونه منله .

د مني اولې شپې وې، چې په آسونو راسپاره شوو او مخ په ختار وخوځیدو . باور وکړه، چې دا کوکچې، ته راورسیدو او د « ښکې قلعه » باد را باندې ولګیدو زړه مې باغ - باغ شو .

د کوکچې په غاړه مو آسونه دمه کړل او په خپله لکه د شپو - ورځو تږی په سینه ورشیوه شوو . په لپو کې مو ولا که اوبه څښلې وې ، د کوکچې په غاړه پرېوتلو او خولې مو دریاب ته ورورې . له موږ سره یوبل د لارې مل و ، هغه په زړه راوکار کړو او راته یې وویل چې کوکچه تاسو نه پېژنۍ ، د دې څېې لېونۍ دي ، که راغوړځارې شوې ، نو بیا به مو مرې په آمو کې غواړو. موږ ورته وویل : بنه یې پېژنو ، د سین ها غاړه زموږ سیمه ده ، او له لېونتوبه یې هم خبر یوو ، خو څه وخت مو نه وو لیدلې ، او دیرې شپې وروسته یې اوبه څښلې.

په « ښکې قلعه » کې لکه د بغلان د پر کورونه رڼا شوې وو . چاپېریال داسې خاموش او ناآشنا بنکاریدو ، لکه

که بعد از آنان در دنیا زندگی می نمایند و از نتایج قربانیهای شهداء متمتع می شوند، حقیقت امر این است که شهادت بیشتر از همه برای شهداء حاصل منافع بیشماری است که قرآن مجید در این جا باختصار از آن یاد آوری می شود :

اولاً : خداوند جل جلاله آنانرا هدایت میفرماید : مراد از هدایت در اینجا یا هدایت قوم شهید پروراست که با شهادت فرزندان شان در راه خدا درواره های هدایت بروی شان گشوده میشود و یا هدایت شهداء بسوی بهشت است .

ثانیاً : خداوند شکور جل جلاله بوضع آنان رسیدگی فرموده و حالت شانرا بهتر می سازد یا در اینجا مراد از اصلاح حالت قومیست که شهید داده است . و یا اصلاح حالت شهداء باین معنی که قبل از دخول به بهشت آلایش شانرا می زداید ، بدیهای شانرا عفوی کند ، خطا و گناه شانرا می بخشد و آراسته با خلقها بسوی بهشت جاویدان که نعمتش برتر و بهتر از نعمات دنیوی است آنانرا رهنمایی می کند . یعنی با شهادت شهید نه عمل او متوقف و لاکد می ماند و نه روح زندهٔ او سکون و رکود می پذیرد او همیشه بسوی افق وسیع هدایت و فراخنای بی انتها ی سعادت بالا میرود و رشد می یابد شهادت هرگز بمعنای مردن و خفه شدن نبوده ، بلکه پیوستن به جاویدانگی است . او همیشه زنده است و نزد پروردگارش روزی می یابد ، می بالد و می پاید ، همانطوریکه راه و هدف شهید ادامه می یابد و تعقیب میگردد و عملش بارور میشود .....

په خوب کې يې چې ويښو . که څه م شناخته خلک دې
وو، خو د روسانو لښکرو هر څوک په يوه ژوره حيرانۍ
او تنهايۍ کې راکښيستي کړي وو . د وينو پاڼې مخ په ريږدو
وې او د شمال له خوا ساړه شمال د زړه تل ته لاړه کوله.
په هغو وړځو کې پخټې سپينې شوې او د ماشومۍ شروع
و ، مګر زمکې اکثره شاړې وې او په کروندو کې خلک
کم ليدل کيدل . زه او حليم مټر هرڅه د مخه خپل کليته
ولاړو - په کلي کې هيڅوک نه وو . هغه ښوونځی چې نه
پکې شاګرد او ښوونکی وم او په خوبونو کې به مې يې
له ليدلو ډير خوند اخيست ؛ او س د پرېښو کورته وتلې
شوی و . په ما کې د کلي او ښوونځي د ليدلو ارزو -
سلاسی مړه شوه . خو دقيقې لکه څوک چې د چا قبر ته
ودرېږي ؛ هلته ودريدو او زړ ځنې راستانه شوو .
موږ لا د چا خبره د مه نه وه جوړه چې د ينګی قلا ،
تلاشی شروع شوه ، له ينګی قلا څخه تېښته ډېره ګرانه ده
يوې خوا ته يې آمو بهيږي او بل لوړته يې کوکچه؛ او دا
دوو سيندونو ترمنځ ايساره سيمه ده .
د روسانو د تلاشۍ له وېرې به زه او حليم هره
سحر ځنګله ته تلوو . ځنګل په تېرو کلونو کې ډېرو
د ښکار اومستۍ ځای و، او اوس د پنا او پټيدو .
په هغه وړځ مو د تېرو وړځو په شان د آمو په

غاړه د سهار لمونځ وکړ، او د خپل « دربار » خواته را روان شوو .

(زه د دربار په مطلب پوه نه شوم ؛ نو ځکه مې توضیح وغوښته) . ده وموسکا او ځواب یې راکړ : چې له خلکو او اجتماع څخه لېرې اوسې، نو د خپل ماحول هڅه ته به یو نوم ورکوې او زړه به پرې خوشاله کوې. دا ده چې ځنګل د ډېرو برخه اوبو نیولی دی ، وچه حصه یې هم ټوله نونه ده او د ډېر وخت پکې تېرول د هدو درد پیدا کوي . له هدې کبله ما او حلیم د کانو سره ونه را تات کړل ، د هغه د پاسه مو د کانو پاڼې واچولې او دغه ځای مو « دربار شو » . په حقیقت کې ترټولو وچ او آرام ځای و .

په هغه ورځ چې ځنګل ته ورسیدو، له لمونځ کولو وروسته د خپل دربار خواته وخوځیدو . په هدې وخت کې مو دوه بره ګې (کښ شېپ هیلی کاپټر) الوتکې ولیدې چې د کاکل د تاڼې له لورې د ځنګل خواته را روانې دي (د کاکل تاڼه د حیرتان شمال ته موقعیت لري). موږ هرڅ خپل ټوپکونه پټ کړل، او نور په تشویش کې نه شوو ، ځکه پوهیدو چې په ځنګل باندې بره ګې کار نه لري . کله چې « دربار » ته راورسیدو ، الوتکې هم د ځنګل فضا ته راننوتې وې او فیرونه یې شروع کړل . موږ ژر - ژر د کانو په پاڼو

ځانونه پټ کړل او د سهرنوشت منتظر پاتې شوو .
الوتکو مټر غږې پورې د راکټونو او ماشینګنو فیروونه وکړل ، خو د خدایځ په فضل یې پاتې شوو ، اصلاً الوتکو په کانو او اوبو یو فیر هم و نه کړ ، بلکه ټول ټاوه یې د سپښځلو او غږو په ونو وو . د ونو په کوندو باندې د سروسانو کومان راغلی و ، چې دا به کوندې مجاهدین وي . دوی د ونو وهستې او ټهرې کوندې سهې - مهې کړې او زمکه د ډېرو فیرونو له برکته ښخې قلبه شوه .

وهرو سته له بمبارده دواړه وموسیدو او بې له دې چې څه وواېو ، په ډوډۍ خوړلو لګیا شوو (موږ به هره وخۍ د غږې د پاره له ځانو سره وچه ډوډۍ راوړه) .

د حلیم یو عادت و ، چې وهروسته له خطره به یې ډوډۍ ته ډېر زړه کیدو ، ده به راته ویل ، چې د خطر په وخت مې د ژوند نعمتونه مټر سټرګو - سټرګې کیږي او د شوند د ډېر واړه خوښلت او راحت په قدر هم پوره پوه شم . زه هم له ده سره ، د ده په خوی شوی وم ، چې مرګ به مې رالنډ ولیږه ، نو خوراك ته به مې زړه وشو - که به د خوراك شی راسره نه و اوبه به مې په خوند - خوند څښلې ، او د آسمان او زمکې له لیدلو به بیخی خوشالیدم .

د ماسپښین د لمانځه دپاره بیا د دریاب غاړې ته ولاړو . هلته مو اودسونه تازه اولمونځونه وکړل او په کراړه - کراړه د خپل دربار خواته راروان شوو په دې وخت کې د شمال له خوا بیا بره کې طیارې راښکاره شوې طیارې د هېرې چټکې راروانې وې او موږ له خپل دربار څخه لېرې وو .

دا ځل ځلوړ الوتکې وې ، دوو لکه چې تېل شیندل او دوو نورو د راکټ ، کله کوف او دا هشکې فیرونه کول . دا وار یې سم رایسار کړې وو ؛ موږ حتیٰ خپل توپکونه نه وو پټ کړې ، چې طیارو بیا اورونه بل کړل .

په وچه باندې د پټېدا ځای نه و ، ناچاره د کانو منځ ته وښتوتو . زه او دې دواړه د کانو په منځ کې پرمخې پرېوتو ، او توپکونه مو دتر تېټر کاندې کړل.

ممکن نیم ساعت به هدغسې پراته وو ، چې بېې اړخ ته مې د اوږې تاو راورسید . وښو - وښو مې سر راواړاوه . نرموږ په څو مترې کې د اوږې لېې وې . د اوږې لېې په لسګونو مترو لوېږې وې او دم په دم راټوټې کیدې .

حلیم م په حساب پوه شوی بله کاره نه وه ، ناچاره چپ اړخ ته په سینه کرښیدا شروع کړه .

د کانو په منځ کې ؛ هغه م په تېټر کاړه وهل ناشوني

کار دی . اصلاً د ځنګل منځ ته ېې له ښکاریدنو او بوی یا ناڅاپه بل څوک نه راځي . کافي چې زموږ خلک ورته (ځاران) وایي ، په کلونو- کلونو هم په اوبو کې نه وړستیږي. دا چې بوی یا وې ځني جوړوي ، اوبه وجه ېې همدا نه وړستیدا ده . بوی یاباڼان چې د لته کافي ږیږي ، د ځان د پاره ېې نږدې- نږدې لاړې جوړې کړې وي - دا لاړې هم له کانو نه جوړوي - که په کاږه باندې سم شوې، نو اوبه تر یوې - یوې نیمې لوړیتې ډېرې نه وي خو ېې له لاړې که دې پل د کوم وهل شوي کانې په ږیښې باندې کښښود، ښه تر ښه ، او که نه نو ځینې داسې ځایونه هم شته چې تر ستونې پورې به په اوبو کې ننوځې . موږ خواران خو ښځ څه چې په کړوپه ملا نه شوای تلای ، له بلې خوا د دواړو سره ټوپک میرات مړې وو ، نو ځکه راته خوځیدا لا دېره سخته شوه .

یو څه چې پر مخ ولاړو ، په پښو او تښتروني مو وینې ږا ماتې شوې . بوی یاباڼان په ځنګل کې کاروڼې په پښوکوي. کاروڼې د ځوابې له خړمن څخه جوړیږي او کافي ېې نه شي غوښولای - مګر موږ داسې راایسار وو چې آسمان پورته و او زمکه کلکه . یوې خواته مو مخ نه اوښیدو او د ځان- ساتلو هیڅ وسیله راسره نه وه .

ما وړوسته له څو دقیقو ځاته وکتل . اوس نور هم رانژدې شوی و . زموږ تر سرعت د اور پرځنګ کړندی و او څو

شیبې وروسته خامخا راورسیدو .

ما حلیم ته وویل : وروره ! یو خو له توپک سره کښیدا کړانه ده او بله دا چې که اوس لاندې کړو ، نو نو لمبو د مخه د خپلو توپکونو په مرمیو مړو .

ده ځواب راکړ : زما سینه دې نښې - نښې کړه - اوس راته وایې، چې توپک پرېږده ـ که توپک پرېږدم، بیایې موندل کړان دي او هم . . . شیبه - نیمه غلی و - ما ورته په کاوړ وویل : ژر - ژر دې خبرې خلاصوه، چې اور رالنډ شو . ده بې له دې چې ماته وګوري، ځواب راکړ : وسله په هر حال ښه ده . وسله باید تل له سړي سره وي .

زه ورته ډېر په قهر شوم . دده نر تېترکاندې مې لاس تېر کړ - توپک مې ځنې راکش کړ او ورته مې وویل: « دا بزکشي نه ده چې سرنوسرې پکې وکړې ، دا بمبارد دی - بمبارد ! » .

په دې وخت کې اوس نور هم رانږدې شو . موږ له وارخطایۍ د اوبو شیندل شروع کړل خو وروسته متوجه شوم چې دا د خلاصون لاره نه ده . . د شا له خوا مو هم ځنګل اوس اخیستی وو او لمبې په نږدې سره رالنډیدې .

ما خپل کارابین او د ده کلاشینکوف نر اوبو کاندې په هغه د ستمال ونړل، چې وچه ډوډۍ مې پکې راوړې وه . بیا مې دواړه توپکونه د کانو نر جړو کاندې په خټو کې ښخ کړل .

د بټوکېونو له بنخولې وروسته مو بار سپك شو او ټنګ راته آسانه . خو بیا هم له پېښې تېښته کړانه ایسیده ، ملګري ته مې وویل : « دوو خواوو ته مو اور بل دی او موږ په سینه لامبو او کړېږو . که د پېرې توره وکړو، له دې دوو لوریو به ځان وساتو ؟ خو که په نورو خواوو اور بل شو ، بیا به څه کوو ؟ بنه دا ده چې ودریږو او په منډه ځان وباسو ؛ که روسانو ولیدو هسې هم مرو به که نورو څه نه وي ، عذاب کشه خو به نه شو .

ده راسره ومنله ، ودریدو او په تادې سره مو د غرب خواته د ځان ایستلو تګل وکړ .

له اور څخه به اویا-اتیا مټره لېرې شوي وو چې دوه الوتکې د ځلکله له هغه بل لوري راورسیدې او په موږ یې د راکټونو او داهشکو باران شروع کړ .

موږ ځای پر ځای ودریدو او بیا کښناستو . که څه هم دکانو په تمتو بخونو کې روسانو نه شوې لیدلای خو د مرمیو له باران څخه هیڅ کیدا ناممکنه معلومیده . د راکټونو او داهشکو باران زموږ تلې بېخي متوقف کړ . نه پوهیدو چې کوم ځای امن دی ، نو ځکه یې خیاله او بې فکره ځای پر ځای کښناستم . په همدې وخت کې چې زه بېخي ناامیده شوی وم، حلیم یوه د پېرې بنه خبره وکړه .

حلیم وویل : ما او تا اشتباه کړې ده . په بیړه بایدد اور

خوا ته ولاړ شوو .

دی مخې ته او زه ورپسې شوم . ورو - ورو د اور څنګ ته ورسیدو . د اور لمن د امن ساحل وه او موږ دا ساحل سملاً پرې اینبی و . زه وروسته پوه شوم د لمبو خوا ته خو، یو الوتکې له ویرې نه راځي او بله دا چې د اور په موجودیت کې یې د فیرونو ضرورت نه محسوساوه

دا ځل لمبو ته بنه ورلنډ شوو ، د لمبو او لوګې په خوا کې له الوتکو بېخې پناه وو ، چې څومره به اوس راښکته کیده هومره به ځنې لېرې کیدو .

تر مازیګر لمونځ قضا پورې الوتکو بد حال جوړ کړې و چې مابنام راولنډ شو ، له آمو پورې وړې او موږ له اوبو راووتو .

لمبو بېخې د سین غاړې ته راسوله وو . زیږې لمر د جیحون اوبه تکې سرې کړې وې ، د لمر په ورځ ستنیو پلوشو کې د ښکلي ایرو اوبو او نیم سوځته ونو یوه ویره پیدا کوله ؛ دا سې ویره چې انسان یې د ظالم نه بلکې د مظلوم له لیدلو محسوسولې شي . او هغه ځلور الوتکې د شورۍ په فضا کې لکه ځلور مرغۍ ، وړې او بې آزاره ښکارېدې .

ما په تړخندا ورته وویل : حتی روسي طیارې هم له لېرې بنې ښکاري !! دده په سترګو کې یوه معنی دار موسکا څرګنده شوه او ورځیته له ځه سوچه پې، په خورا ټینګار راته وویل :

هدغسې ده چې، ولې !

سبق ۵

زنګونه او ټکانونه

د پښې څلوېښت کلې شا او خوا عمر درلود ونګی کړی. مړی سړې ؤ ، د سر په ټوپرو وېښتو پې سپین وېښته په مساوی توګه وېرکه شوي وو ، د تندې ګونځې پې د ژونه د سړو-ټودو کیسې درلودې ، مې وریژې (شناوګه) بزیره پې د پښې- شپږو وړځو رسیدلې پاتې وه ، د مخې په دوو لویدلو غاښو کې به پې دخبرو په وخت شربه بندیدله،خبرې پې خوبږې او له نرمه موسکا سره ملې وې ، د پاڅیدلو په وخت کې پې پښو ښه یارې نه ورسره کوله او په ډېر تکلیف به په کار روان ؤ .

یوه ورځ مې دخبرو په ترڅ کې پوښتنه ترې وکړه:

« شهسوار اکا ! ستا عمر خو دومره زیات نه دی چې له پښو دې لویدلی وې ، نو ګوڼې شم چې د پښو د تکلیف علت دې و پوښتم ؟ »

په له موسکا نه ډکه لهجه پې وویل : « ولې نه شاه حاضر یم چې ټوله کیسه درته وکړم او م که وغواړې کوڼای

شې چې وې لیکې او خپرې یې کړې ! »

ما ورته وویل : « ولې نه ! که جالبه وي او لوستونکو ته د ژوند واقعیتونه وښیي، نو زه قول درکوم، چې هم به یې لیکم او هم به یې چاپوم ! »

ده راته وویل : « خیر، نو غوښې راته کښیده ، کیسه لمړه درته کوم او وخت دې مړې نیسم ! »

ما « ښه » ورته وویل او ده کیسه داسې پیل کړه :

« د لس دولسو کلو پخوا خبره ده ، خدای دې تر کړو کناهونې راتېر شي، زما د یوه دوست د واده شپه وه د اولس له دود سره سم د واده دخوښۍ له پاره مو یوه ډله سندرغاړې راوستلې ، د مجلس د تودیدو له پاره مو دوه لښتې هم راوستې ، د یوه هلک چې په تندي یې شین خال درلود د ډول او سپکاوو جوړولو کار ما او زما یوه ملګري ته وسپارل شو ، دواړو ښه ډېر وخت پرې تېر کړ ، سرخي-سپیده مو پرې ووهله ، زړورتیا خالونه مو پرې کښودل ، کاجې شالونه مو ور په سر کړل او زنګونه یې ما په خپل کاس پښو ته ورواچول ، په مجلس کې د ډول ډنګ او د زنګونې شرنګ شو ، د سهار تر سپیده چاوده مو د خوښۍ نندارې وکړه ! »

شهسوار کاکا لږ غلی پاتې شو او ما په بیره ټکۍ وپوښتل :

رهروان راه شهداء در تداوم جهاد ایشان می کوشند ، وخاطرات قربانی آنان پیوسته برهروان طریق شهداء زندگی وتحرک تازه میبخشد، وجامعه را درحالت پویایی وبالندگی نگه می دارد و بدین ترتیب آنان در ثواب اعمالی شریک میشوند که دیگران درخط این شهداء انجام می دهند قرآن مجید درجای دیگری دربارهٔ شهداء میفرماید :

« ولاتحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا بل احیاء عند ربهم یرزقون ○ فرحین بما اتاهم الله من فضله ویستبشرون بالذین لم یلحقوا بهم من خلفهم الاخوف علیهم ولاهم یحزنون ○
(۱۶۰ - آل عمران)

« و کسانی راکه در راه خدا جل جلاله کشته شده اند مرده مپندارید ، بلکه زنده اند ونزد پروردگارشان روزی داده میشوند . شادمان اند بآنچه خداوند جل جلاله از فضل خویش به آنان عنایت فرموده است وخورسند میشوند (ازحال) کسانیکه تاحال با ایشان ملحق نشده اند (درعقب آنان اند) - بناء بر اینکه خوف برآنان نیست و ایشان محزون نشوند » .

در آیهٔ دیگری چنین می آید :

« ولاتقولوا لمن یقتل فی سبیل الله اموات ، بل احیاء ولکن لا تشعرون ○ (البقرة : ۱۵۴)

« کسیرا که درخدای جل جلاله کشته شد مرده مگوئید (بمثابه ایکه) ایشان زنده اند ولیکن شما احساس نمیکنید » مردمؤمن باین باوردارد که شهادت آغاز زندگی جاوید است ، او شهادت را بمثابه پلی میداند که ویرا

- « زما د پوښتنې ځواب په ځای پاتې دی ، ما هیله درلوده چې زه به د خپلې پوښتنې ځواب واورم ! »

ده په خندا سره وویل : « او س اصلی مطلب ته راځم ته وار خطا کیږه مه ! »

- « بښه ! »

ده خپلو خبرو ته دوام ورکړ :

« تېر کال مو په یوه مجلس کې د خلقیانو له خوا دکوښې دریې زړو کوروونو ته د اور اچولو او د بې شمېره ځوانانو تر قتل وروسته افسوس بشکاره کړ او دا کار مې وغندړوشې او خیانت وباله ؛ د شپې په درانه خوب ویده وم چې په ډېر وحشت مې دکوسر وسر وټکول شو ، زه لا ویښ نه وم چې دکوسر په بام مې عسکر راوخښتل او له وروتلو سره سم یې راته وویل :

- « شلمسوار ته یې ؟ »

ما یې له دې چې وارخطا شوی وم ورته وویل :

« هو ! »

دوی په تونده لهجه راته وویل :

« له ځایه مه خوځیږه ، مونږ ستا کور لټوو ، ته په کوسر کې وسله لرې او کودتا کول غواړې ! »

ما په سړه سینه ورته وویل :

« کوڼی شئ چې کور مې وکوږئ ، زما په کوسر کې وسله-

مسله نه شته ! »

د ډلې مشر په لوچکانه لهجه راته وویل :

« بس خاینه خوله مه خوځوه چې اوس به یې دربانديې ماته کړم ! » او له دې سره یې د کلاه شینکوف په کونداغ د ولیو په منځ کې داسې کلک کوزاړ راکړ چې په مځکه را غوزار شوم ! د ما شومانو په ژړا او کړیکو راپور ته شوم ، خپلو وړو ته مې د لاسینه ورکړه او دوی دکور په لټون بوخت شول .

د کور په لټون کې یې یوه بنکلې سرمیزې کړېده ، یو جرمنی ټیپ ریکارډر او نور د کور لوی او واړه شیان له ځانه سره واخیستل او زه یې په دیکو - دیکو له کوره وړسره راوایستم ، موټر ته یې واچولم او د کوم ټیوچارو د وزارت مامور ته یې وړسو لم !

ما په موسکا مټرې وپوښتل : « وسله یې یووړه ! »

دی هم وموسید او ویې ویل : « وسله له کومه شوه چې وړې یې وای؟! »

د ما د « بیا څه وشول؟ » سره ده کیسې ته دوام ورکړ :

- دیرې شپې یې متر وهلو - ټکولو کاندې واچولم ، خو ما کوم جرم نه درلود چې ورته ویلې مې وای ، په دې وښوه بله شپه یې یوې نورې کوټې ته بوتلم ، هلته یوځوان راغی ، په پښو کې مې یې د برق سیمونه راوټرل او بیا یې د بالټیوانډل

تاو کړ ، برق سخت او دردوونکی ټکان راکړ ، د برښنا په رڼا کې د شکنجه مار څېره آشنا راته بنکاره شوه ، د تندي شنه خال یې د ټپرو خاطرو لوړ ته بوتلم ، وهي پېژاند او په ځاې د دې چې چیغې او فریاد وکړم ، کټ-کټ مې وخندل.

شکنجه مار حیران شو ، په تعجب یې راته وکتل او په حیرانتیا یې راته وویل :

-« ولې دې وخندل ؟ »

ما په معنی داره لهجه ورته وویل : « بچو وار دې واخیست ! » له دې خبرې سره دی هم راته خیر شو، وې-پېژند لم او یو ځل بیا یې په بیړه او تلوالې توب د بټریو اتدول پرله پسې تاو کړ، او داسې ټکانونه یې راکړل چې دا دي د تل له پاره یې له پښو څخه وغورځولم ! !

(پای)

«ان پاکیزه های آنچه به شما روزی کرده ایم بخورید و در آن از حد نگذرید که در آنصورت خشمم بر شما محقق گردد و هر که خشمم بر او فرود آمد حتماً هلاك شود».

«طٰهٰ : ٨١»

زبیر - شفیقی

کوچنی بم

نړیوال په سیمه کې چې کله د کمښو پوښتې او قوا وې له منځه ولاړې او د سیمې والګ د اسلام د کلمې د سرښندونکو غازیانو لاس ته ورغی ، کله - ناکله به مې چې د ماشومانو ترمنځ څه شخړه او جنجال لیده ، نو یو - بل ته به یې په ډېره خوښه ویل چې « اختریه ! ، اختریه ! ، د اختر ی بچیه ! » .

اختر ی په سیمه کې د خلقیانو هغه شخړه وه ، چې تل ناوړه عادتونه او اخلاقي ټیکرتیاوې یې په وجود کې خلاصه کیدلې نو ځکه د لوبې او ورځو د خولو متل وګرځیده .

اختر ی یو ښوونکی و ، د خلقیانو له کودتا څخه پخوا هغه په سیمه کې د دومره بد سړي په نامه چا نه پېژانده او نه یې له پټ خباثت او خلقي توب څخه څوک خبر و ، ظاهراً یې جامه او څېره هم د عالمانو او مسلمانانو غوندې جوړه کړې وه ، لوبه ښېره یې درلوده او تل به یې سپینه لنګۍ په سر وله ، ټټر څو له یوې خوا خپل ځان مسلمان و ښیي او څوک یې له خلقي کوند سره په اړیکو پوه نه شي ، له بلې خوا یې خپل کنجي سر د خلکو

له نظره پټ ساتلی وي : کنجی اختری د اوبدې بېړۍ ، مناسبو جامو او سپینې لنګه سره څه فقهی مسئلې ، ایشونه او حدیثونه هم نړه کړې و ، چې کله - کله به یې په مجلس کې د خلکو د اعتماد او نظر جلبولو له پاره له ناولې خولې څخه سراوښل ، د دارالمعلمین د نړه کړو له پای ته رسولو وروسته یې لومړنی خو کلونه له سیمې څخه لیرې د بنوونکې په حیث د نندې سرته رسوله ، بنایې هلته یې یو شپږ ناخبره او بد مرغه نړه کوونکې غولولې او د کمونیزم په چال کې راکیر کړې وي ، د تعلیمی کال په پای کې به اختری د ژمې د رخصتیو د تېرولو له پاره خپلې سیمې ته راتلو ، یوځل یې په دغو رخصتیو کې د سیمې د یوه کلي نړه کوونکو ته په اجوړه سبقونه ویل ، په خپل سر یا کارانه چال چلند او روښه یې د هغه کلي خلک متر دومره اغیزې لاندې راغلل چې کله - کله به د جومات د ملا امام په غیاب کې خلکو مخ ته کړل او لمونځ به یې پسې ادا کاوه . یوه ورځ د اختری له دغه کار څخه د سیمې یو بیدار او مبارز مسلمان «کبیرو» خبر شو چې د اختری له خلقي توب څخه له پخوا نه پوهیده له کابل نه نښې همغه کلي ته ورپسې ورغې ، له مخامخ کیدو سره سم یې په اختر و د وهلو پیل وکړ ، د زاړیو او کوکو په غږ یې د کلي خلک خبر شول او کنجی اختری یې په عذرونو او زاړیو د مسلمان کبیرو له سوکالۍ او لغتو نه خلاص کړ ، او کله یې چې له کبیرو نه د هغه د وهلو د سبب پوښتنه وکړه ، نو

هغوی د کبیرو له خولې د اختری د خلق تر ب خبر واو ویده هیڅکله م دا نه شوای منلی چې د هلکانو استاد او د لمانځه دوخت ناوخت امام دې پې د اسلام او قرآن له سرسختو دښمنانو څخه وي .

د غوبې د کودتا نه دوه کاله د مخه اختری خپلې سیمې ته‌د بنووڼکي په توګه بدل شو ، د وهلو کیسه پې لا په ذهن کې شوندې وه ، هسې له وېرې نه پې له خولې سوې نه خوت په بنووڼیځ کې پې کوزار کوله او ظاهراً پې دیوه مناسب فرصت په انتظار خپل خلق کوونه ته له بلنې څخه لاس واخیست، شپې- وږځې یو په بل پسې تیریدې ، ترڅو د هیواد په ویاړلي افق د سره بنکلاک سړې وږځې رابنکاره شوې ، د یوې خونړې کودتا په پای کې پې د ډینه خلقیان او پرچمیان واک ته ورسید ل د دې پېښې سره سم اختری نور هغه پخوانی پې غرضه او عاجز اختری نه و ، بلکه لاسه پې په ټولو کړو- وړو او عادتونو کې یو شور تغیر بنکاره شو، آن تر دې چې سوړ کیس او بټلی پتلون پې د پخوانۍ جامې ځای ونیو ، هرڅای او دهرچا په مخکې به پې د خلق حکومت د ستاینې او خپلو هلو- ځلو د یادولو په باب خوله خلاصه کړې وه ، په سیمه کې د نجونو د بنووڼیځ دتأسیس سره سم پې د نورو سړي بنووڼیځ د سربنووڼکي په توګه دنده واخیسته ، په هر مارښ او هر خلق غونډه کې به کنجی اختری له ورایه بنکاریده، په

سیمه کې به یې له دغه وړ کاروونو او فعالیتونو سره - سره په اوفغه کې یو-دوه ځله خامخا د ولایت مرکزته دګوندي غونډو له پاره روان و ، لنډه داچې هغه بالکل یوه توته تحرک و او تخریب خلکو ته به یې ویل چې تاسې به دوعاګانې کولې ، چې خدایۍ ! بندیان له بنده خلاص کړې او پوره وړې له پوره نه دا دی دوارهٔ وشول او ستاسو د غه ارمان د خدای په ځای نتړۍ صیب پوره کړ . (العیاذ بالله)

هو ! هغه لا د خلقی دولت تر سیوری لاندې خپل خواږه خوبونه ته و لیدلې چې دهېواد په ډېرو ځایونو کې د قیام او آزادۍ ر ڼې په ر ڼا شوه .

خلقی حکومت د خلکو چې خپلو کې د جګړو په ځینې خلکو ته وسلې وړ وېشلې دوی لا د وسلو له وېشلو نه نهو خلاص شوي چې ویسله والو مسلمانانو د « الله اکبر » په نارو د ولسوالۍ انګړ پرېښود او د جهاد د پیل د پاره غرونو ته وختل .

خو کنجی اختری بیا هم د خپل ګونډ او د خپل پادار - (روس) د مادی وسلو او طاقت په ستاینه لګیا و ، هرځای به یې چې څوک لیدل ، ورته ویل به یې، چې دې خلکوته ووایئ، چې بېرته تسلیم شي ، توپک راوسپئ او کله نه یو کوچنی بېړه د د غه ټولې سیمې د اوسیدونکود وشړلو له پاره بس دی .

یوه وخت له څو تنو نورو خلقیانو سره د ولسوالۍ څخه د علاقه داری په لوري په یوه جیپ کې روان وو ناڅاپه د لارې په نیمایي په یوه تنګي کې له دواړو خواوو نه د تکبیر د نارو په بدرګه ددې په لاس وښل شویو توپکونو د مرمۍ بښکار شو، او د کوچنی بمبر د چاودنې ارمان یې خاوره ته یووړ!

دهاق

دوبیتی‌ها

خدایا! شاد داری جان من را
شهید عاشق گلگون کفن را

نهاده سر برای حفظ ناموس
شهید راه حق، فخر زمن را

* * *

زگرد جنگه پر شد جام انجم
به‌راکت می شگافد بام انجم

ز دود و آتش و آوار بمب ها
فتاده رعشه بر اندام انجم

* * *

شب آمد باز از شب های سرداست
شب پایان یک روز نبرد است

خموشی سایه افگنده ست بر ده
و یا باران ابر دود و گرد ست

شب تاریک پر وهم و سیاه است
شب فریاد و دردواشک و آه است

تمام قریه چندان زیر و رو شد
نمیدانم کجایش بام و چاه است

* * *

چه بی پرسان وجویان آمده روس
که چون سیل خروشان آمده روس

ببر اندیشهٔ ناپاکش از سر
که دزد خاك افغان آمده روس

* * *

جهان خود رونق دگر گرفته
و یا جنگ و ستیزی در گرفته

فراز قله های سرکشیده
فلك را شعله ها در بر گرفته

* * *

الا ای جرم باز آهنین چنگ
الا ای زادهٔ «بابا» و «سالنگ»

به راکت زنده کن ذوق دلترا
الا ای کشتهٔ نای و دف و چنگ

*

به خداوند جل جلاله وحیات جاودانه وصل میسازد ، ازینرو در راه ایمان بی ترس وهراس گام برمیدارد ومشکلات وموانع راه در اراده اش تزلزل وتردیدی ایجاد نمیکند ، واعتقاد به این امر روحیهٔ تسلیم ناپذیری وشکست ناپذیری اش را تقویت می بخشد .

« ویدخلهم الجنة عرفها لهم »

« وایشانرا به بهشتی می در آرد که برای شان معرفی کرده است » خداوند وعده می فرماید که شهید را داخل بهشت سازد ، اوکه به صداقت ایمان خود شهادت داده است ، وشهادتش گواه صداقت اودر ایمان وفاداری اش نسبت به تعهد و میثاق است ، پس از ایفای عهد و تثبیت صداقت مستحق بهشت شمرده می شود ، اورا بهمان بهشتی در می آرد که ازقبل برایش معرفی کرده است ، این تعارف یا همان معرفت از لابلای آیات بینات قرآن و ارشادات پیامبر اکرم (ص) است ویا اینکه در اثنای شهادت ، آنگاه که روح شهید بسوی افق بیکران ابدیت پرواز می کند ، به او معرفی میشود ، ویا اینکه قبل از قیام قیامت ، ارواح شهداء در بهشت به سیری پرداخته و با نعمتش آشنا میشود ، چنانچه پیامبر علیه السلام می فرماید : شهید (با فرو ریختن اولین قطرهٔ خونش) بخشیده می شود ، از عذاب قبر محفوظش می دارد ، از بیم عظیم (عذاب دوزخ) مامون میماند بر مرقد سرش تاج وقار گذاشته میشود .

همچنان پیامبر اسلام میفرماید :

« بعد از دخول به جنت احدی بخاطر در یافت دوبارهٔ آنچه در دنیا داشت

لنډی

ای د جبهو خوانانو کلک ځئ

په وینو سره کړئ د روسانو سره سرونه

چې کابل یاد کړم ژړا راشي

چې ببرته کورم مجاهد دې خدائ لرینه

وطن د پټ - عزت ده نښته

څکه غاړې وړ باندې سرقربانوینه

شبنم به داسې په ګل نه وي

لکه خوله چې د غاړې په مخ راځینه

د تېښتې فکر وړسره دی

ببرک د روس په څنګیرو خوله لګوینه

ای د وطن هدیرو واوړئ !!

چې خاورې نه کړئ د غازیانو صورتونه

هغه به څنګه ښه ساعت وي

چې له وطنه روسان تښتي تېت سرونه

د شوروی د دولت مشر
د بې آزارو آزاد وړې مرد ار به شینه
خاوند ه ! ته یې سائنتدوی شې
چې په غاړیانو باندې اوړې سره بموښه
کلی مې سرو روسانو ویجاړ کړو
اوس به د غم وړځې په بل کلي کالمه

رالیږونکې : خورکه « ث »

په خپل وطن کې ځان شهید کړه
چې مسلمان دریاند ې ټول فخر وکړینه
مجاهد واړه شنه زړیان دي
دا پرچمیان د شوروي کید ړې د ینه
غاړیانو بیا وسله سنبال کړه
الله دې خیر کړې سبا بیا غزا ته ځینه
هیلی کوپټر طیارې راغلې
مجاهد ناست دي دا هشکې پرې چلوینه
په طیارو دې مه نازیږه !
مومنه ه ځانونه په الله سپارلې دینه
چې د غاړې د راکټ غږ شي
د شوروي تا نکوډه ټول په ماتې ځینه

خوک شو ترخپلو کورونو لاندې
د چاخپې په پښتور ولاړې د يمنه
بيا به د چا په کور ژړا شي ؟
خدايۀ ! تېرېږي په هوا روپۍ جازونه

راليږونکی ، مجاهد غلام حيدر
دلغمان د قرغيو اوسيدونکی

يا به آزاد شي د زړه سره !
يا به مې خوښې د صحرا مرغان شپېلينه
زما سلام دې په هغو وي
چې په تش لاس مقابله د روس کوينه
کارمله ! خونه دې تالا شه
د شاه شجاع تاريخ دې بيا راژوندی کنه
ځان ته به څنګه انسان وايي ؟
هغه افغان چې غلامي د بېل کوينه
روسيه ! ځان ته که ښه وايي
د ټينګ نه کوز شه چې معلوم دې شي مالونه
زما به برخه کړاوي وي
چې کړاوي ژوندون زما په نصيب شونه
د تره کي انجام بې څه شو ؟
چې اوس دا بل لمرفدار دې روس کوينه

راليږونکی : معجد اسرار احساس ښوونکی
کونړ

که په روسانو کې وای فکر
په دوکه مار کارمل به نه دوکه کیدنه
روسانو په خپله دوکه مار وو
چې د دوکې په سین پې ګډ پرچیان کړنه
سین پې شوروا، غږې کړو غوښه
چې د کارمل ملګرې شول روسي تانکونه
کارمل لا اوس هم نه پوهیږي
چې کمړیو تې څوک مړې نه پریدینه
که افغانان پې مهاجر کړل
پرچیان هم پناه کړیږ د کابل شونه
اصیل افغان خو هجرت وکړ
ادا کوې د پیغمبر خپل سنتو دنه
تا د لینین ، لعین پل وښیو
کارمله ! ته ورک شې او ستا ملحدان ملاتړ
دنیا دې خواره شوه دنیا کې
الیم عذاب درته کوي انتظار دنه
کارمله ! بښه ګټه دې وکړه
په خپله خونه کې دې بل کړل سره اوږه
کار دې له مرګ شه کارمله !
چې د وطن ناموس دې کړو په نورو کنه

کارمله! کاردې شه له مرګه
چې په بې کاره صورت ښدې کاږي نومونه
لعنت په تا او ستا په یار شه
چې ستا په شان وطنفروش نه پیژنینه
په وطن پلورو - غدارانو
وایي وطن او کاني بوقي لعنتونه
چه ناموس نه پیژني داسې -
خوانان دې ښځ ځي د ایرو په ډیرانونه
چې کور بې خپل واکه بې پردي وي
داسې بې واکه غلامان دې خاورې شینه
کارمله! ته به هم خوشال یې
چې نړه پاچا ډیم او لرم روسي تانګونه
دا خوشالي دې شه له مرګه
چې دین، ناموس درځنه ځي، غواږي روبلونه
په دې پوه نه شوې دخړه سړه!
چې ستا امین، ترکي، خه شول، چیرته دینه ؟ ؟
ته خو له خایه وې سرکونې
مه ټینګوه دافغانانو جګ سرونه
ببرکه! دا کټه دې بس ده
څوندي او مړي دې وطن نه قبلوینه

لعنت په تا غل-د وکړ مار شه
چې په اشرافو خلکو بزدې اشرار نومۍ
اشرار خوشحه کسو ته وایي
نه چې دا لویې پرکنې - په عالمو ننه
په خوله او ستړګو دې شه خاورې
د وکړ کوې خلک په ړنا - سپین میدانونه
بلېږه د ې د وبه شه بې ننګه !
چې ړنګوې د خوبندو - مینډو - روغ کورونه

رالیږونکی : سلیم - کرښوال

یو ځل یې بیا ننداره وکړئ
افغان ولس د امتحان وکړ ته ځینې
غاړیانو بیا توپې تر ملا کړې
له غلیمانو څخه ! خلې کسانو ننه
تر افغانې همت مې ځار کړې
روس ته او به د سر کاسه کې ورکوینه
توپې ته ژوبدې کې چې شا نه کړې
ملا یې نجونې به پښور درته کوینه

ن - ننګیال

۱۹-٤-۱۳٦٤

د ماشومانو له پاره :

محمد عارف - غروال

ترانه

تورہ موپه لاس کې ټول له خپل وطن قربان یوو
موږ مسلمانان یو و
موږ مسلمانان یو و

*

دا زموږ ګلشن وطن
دا زموږ عدن وطن
دا زموږ خاتن وطن
دا زموږ خاتن وطن

سر به ترینه جار کړو، که واړه یوو که ځوانان یوو
موږ مسلمانان یو و
موږ مسلمانان یو و

*

نه پریږدو غدار دلته
نه پریږدو بدکار دلته

کم سترې وو بیدار دلته
کم سترې وو بیدار دلته

تږه چلوو تل ، سرښندونکي افغانان یوو
موږ مسلمانان یوو
موږ مسلمانان یوو

*

موږه آزادي غواړو
موږه خپلواکي غواړو
ورکه ځانځاني غواړو
ورکه ځانځاني غواړو

دا مو دی مرام ، د خپل پېښوا په کار روان یوو
موږ مسلمانان یوو
موږ مسلمانان یوو

*

بشکلی دی مرام زموږ
بشکلی دی انجام زموږ
دغه دی پیغام زموږ
دغه دی پیغام زموږ

سر او مال نه تپس یوو، موږ د دې خاورې بچیان یوو
موږ مسلمانان یو و
موږ مسلمانان یو و

*

نن که دریه در یوو موږ
نن که مات و زړیوو موږ
پټل زخمي ځیګر یوو موږ
پټل زخمي ځیګر یوو موږ

دا مو دی باور، چې بریالي په هر میدان یوو
موږ مسلمانان یو و
موږ مسلمانان یو و

*

موږ د خدای ﷻ قانون غواړو
خپل دښمن زبون غواړو
مینه - پیوستون غواړو
مینه - پیوستون غواړو

لوی - واړه غږوالې! د تاریخ قهرمانان یوو
موږ مسلمانان یو و
موږ مسلمانان یو و .

*

محمد عارف ـ غروال

لویه جرګه!؟

لویه جرګه ده ـ که د غلو جرګه ده
دهېواد پلورو څو مېرنې جرګه ده

د غه جرګه ، جرګه بللی نه شي
د ځان پلورنې د روبلو جرګه ده

جرګه د خپل قام سباوون راولي
دا خو د توږو ـ توږو شپو جرګه ده

دا د غلامۍ د غلامۍ ننبنه ده
دا کرېملین ته د سجدو جرګه ده

دا د وطن د خرڅولو تصدیق
د څو فاسدو ارمانو جرګه ده

هرگز آرزو نخواهد کرد که به دنیا برگردد ، مگرشهید ، که آرزو میکند تادوباره به دنیا برگردد و دوباره بشهادت برسد ، زیرا او لذت شهادت وثواب وعظمت آنرا دانسته است .

بناء برعظمت شهادت است که پیامبراسلام(ع) آنرا تمنا نموده میفرماید: (قسم بذاتی که زندگیم در دست تصرف اوست که من خیلی دوست دارم که در راه خدا جل جلاله کشته شوم وبار زنده شوم ، بار کشته شوم ، و باز زنده شوم وبار کشته شوم) .

« یا ایها الذین امنوا ان تنصروا الله ینصرکم ویثبت اقدامکم »

« شمای کسانیکه ایمان آورده اید اگرخدارا یاری کنید نصرت دهد شمارا و استوارسازد گام های تانرا » پس ان بیان تفصیلی مقام شهداء وفضیلتی که خدای منعم جل جلاله در دنیا و آخرت به ملت شهید پرور عنایت میکند ، درین آیه به نتایج جهاد درراه خدا جل جلاله و آنچه ازما حصل جهاد به انصارالله برمیگردد ، اشاره میشود . اگرعناصرمؤمن در اثنای درگیری های مسلح بادشمن ، ازدین خدا جل جلاله پاسداری نموده بدفاع از اسلام بپردازند ، خدای خیرالناصرین جل جلاله نیز از آنان تائید نموده وگامهای شانرا درمسیرحق ودر مقابله بادشمن استوارمیسازد .

چنانچه مشاهده میکنید خداوند جل جلاله دراین آیه ، به کسانیکه درراه وی جل جلاله میرزمند ودرجهت هدایت ورهنمائی مردم بسوی دین خدا جل جلاله مصروف اند ، لقب (انصارالله) عنایت میکند ، همین

څو بې وجدانه سره وغیږل
د انسانانو نه ، د سپو جرګه ده

څوك چې انسان وي - وطن نه خرڅوي
دا د وحشت د فیصلو جرګه ده

څوك یې مني د غلامانو جرګې
د تېښتو ستر ګو د کتو جرګه ده

غلام دې خپل بادار ته سر تېښتوي
دغه د سر د تېښتو جرګه ده

دغه ارمان به یې تر سره نه شي
ورته بیدار ده د زلمو جرګه ده

کله پښتنو چېرې جرګه کوله
« غږواله » ! هغه د دښمنو جرګه ده

۱۳٦٤ ، ۳ ، ٤

پېښور

دافغانی مجاهد چیغه

بې د خدایه زه چې د بل چا نه وېره نه کړمه
وایه کمیونسته! بیا به زه ستا پروا څه کړمه؟

ته په دې مغرور یې چې بسیار زما پوځونه دي
م په غټ تعداد زما جهازونه او ټینکونه دي
یا چې میزایل دي - د خطرنه ډك بمونه دي
هرڅه په طاقت زه د ایمان به دې ایسره کړمه

زه پروت ازمېرې وم، تا په خپله پاڼولی یم
ولې ساوستو کېږې اوس میدان ته راوتلی یم
مه درومه کیدره په تش لاس درته راغلی یم
هله به قلار کېنم چې نسه دې خیره کړمه

ته مې شوې مردار شوې - که زه مې شومه شهید شومه
ته د باطل لار کې او زه لار کې د توحید شومه
مې که په ظاهره، حقیقت کې بیا تولید شومه
دا مې عقیده ده، د جهاد نعره کړمه

يون به مې جاري وي، آزادي کښل مرام کښم
دا د حقيقت لور ته، لور، ريښتونی کام کښم
ځکه چې ارزو د ژوندانه د شهيد جام کښم
ځان به د پتنګ په څېر د واك په اور لمبه کړمه

ووځه مې د ملک نه، کنې مات به دې ماتوونه کړم
تنګ به کودا کيه! په تا زمکې- آسمانونه کړم
بل به درته هرڅای په نړۍ کې سره اوسېدونه کړم
دا نه شم منلای چې وطن در قباله کړمه

نه دی چا راج کړې په وطن د افغانانو
به کتلی نه دي، زمونږ وطن ته فرنګيانو
نه راته ښودلي سامراجيان زمونږ چشمانو
پوه به يې ملګرو دې وطن ته په راقله کړمه

بې د خدايۍ زه چې د بل چا نه ويره نه کړمه
وايه کمپونسته! بيا به زه ستا پروا څه کړمه

کل ملا - همکار

تن او وطن

ما چې تن د خپل وطن په لار کې ورکړ
په تاریخ کې مې خپل نوم نقش حجر کړ

مال - اولاد مې هم قربان په دغه لار شه
لکه پلار مې چې قربان ورځنې سر کړ

توپ - توپک - جهاز یې ځکه تاړه تاردي
چې د پاک الله رسول موخپل رهبر کړ

د دنیا مسلمانان به ټول مشکور وي
که افغان مجاهدینو ورک خطر کړ

ای همکاره! هغه رب نه مدد غواړه
چې یې هر مانام په موږ باندې سحر کړ

ژړا يې ارمان

ويړ دي هومره لوی و ، چې جهان راسره وژړل
لړ و ، که سپوږمۍ ، ستوري و ، آسمان راسره وژړل

نه وه يوا خپل دا ما تم ځمونږ د ټولو و
خړپکه - که احساس و ، هم وجدان راسره وژړل

غشی د جفا يې په زړکي چې راته ښخ شولو
هيلې مې ميرانې شوې ، ارمان راسره وژړل

نه چې ، د مزار شنښتې يې ، پټې په کردو کې شي
د هر په چيغو - چيغو « خوشال خان » راسره وژړل

ما د « حال » په ژبه « مستقبل » له « ماضي » وپوښته
د هر يې کاس تر زړې او حيران راسره وژړل

دې پروې اور چې ښ ددې لمنه ښکل کړله
هر څوکه محل و ، شاه جهان راسره وژړل

وينه به يې رنګ راوړي - اروا وې به يې ښادۍ شي
چا که په ږښتيا دا شهيدان راسره وژړل .

شاه محمود پتنګ

دمیني تور

بل څوك نه یم، د اتل افغان له کورېم
تن راوستی مجبوری چې په دې لورېم

ما د دین او د وطن مینه لرله
را شپلی پې ددې مینې په تورېم

د وطن له سره دیر سرونه ځارشول
زه تر اوسه لاژوندی یم ؟ د پښغورېم

استعمار که په هر رنګ وي زیب دښمن یم
پرواکیریب نه د سړه اونه د تورېم

که پرون پې پلار انګریز له ملکه وې
تن روسانولره زه زېږی د ګورېم

ته په خپل توپ ، طیاروبانديې نازېږه
زه پاڼه په خپل ایمان ، دمټ په زوبم

چې د دار په سرهم حق ځنې تېرنشو
ګوره! زه هم د هماغه منصور وروبم

دا د وخت د ننمرودانو دې لاس خلاص دې
ابراهیم غونديې زه بند کله په اوربم

مسلمان که داند رمز دین را
نساید پیش غیرالله جبین را
اگر گردون به کام او نگردد
بکام خود به گرداند زمین را

(علامه اقبال)

امان الله - ساهو

چا راته ووې !

بېکا په خوب کې لاړم کابل ته
د ښو یارانو نړاړه محفل ته

پیمانه هغه ، خو ساقۍ نه و
یاران وو تللي د زمکې تل ته

نه عشق او مینه - نه راز و نیاز و
سپوږمۍ او ستورو ،کتل یو-بل ته

د شهداوو ډېوې مړې شوې
بلبل خاموشه وګړه و ګل ته

اشفته زلفې ، خوږې - وږې وې
حیرت وم وږې، چپه کاکل ته

ګودر خالي دی - منګۍ مات شوې
کلان به یوسې ، د چا وربل ته

په وطن جنګ دی ، چا راته ووې
«ساهو»! راپاڅه - چې ځومرچل ته

۱۳ ، ۱۱ ، ۱۹۸٤

*

پسرلی

هجران وطن

روز تا شب کشدم آتش هجران وطن
تا دل شب غصهٔ شام غریبان وطن

همه دل گشتم و دل اشک شد از دیده چکید
شمع سان سوختم از درد شهیدان وطن

همچو طفلی که دهد دامن مادر از کف
لاجرم گریه کنم دور ز دامان وطن

ای خدا چند ببینم و بود تا به کجا ؟!
دریدملحد بیباک گریبان وطن

نیست سیلاب بهاران که بخسپد در بحر
خون گرم شهدا - اشک یتیمان وطن

مایهٔ فخر منی ، چون پسرت جاندهم ؟
تاج الماس من ، ای خار مغیلان وطن !

هر قدر بجده کنم ، هر قدم از شوق جهم
گرچو سیلاب نهم سر به بیابان وطن

من اگر رفتم اگر سوختم ار بادم برد
تا دم سور خدا باد نگهبان وطن

لاندینی لیک دیوه روسي عسکر دی
چې په افغانستان کې یې د خپل دوست
پر نامه لیکلی .

له بهرنیو منابعو څخه
ژباړه :

د یوه روسي عسکر لیک

کرانه ملکریه «جینکا» !

د یوه سرباز تودې هیلې و منه ، ستا پته مې له «ولودیا» څخه ترلاسه کړه - د «چیچکوف» او «مدکش» هیڅ احوال نه لرم ، له دوستانو نه صرف «آیوانوف» یاد کړی یم . څه چې باید ووایم ، هغه دا چې بس څوندی یم او روغ-جوړ . دلته شپې ډیرې سړې دي ، اما د وړځې هوا ښه لګیږي . موږ ته دمارچ په شپږمه ماښام لږوی غم لرلې اوخطرناکه واقعه پېښه شوه ؛ د یونټ سیاسی کمیسار تورن «سکوبرکولوف» وویشتل شو ، د تورن «لوبرنوف» ککړه ماته شوې وه ، هغه مو ، چې روغتون ته ورساو ، حالت یې ډیر نازک و . دی (لوبرنوف) ټلفون کولو ته تللی و ، چې د یوه روسي جیپ ډریور چې په دنشه کې ډوب و ، وواهه . موږ د «ماسکوبر توف» تابوت په خپل مس (قاغوښ) کې کښینود او له ماښام اوو بجو تر بله وړځ ماسپښین دوو بجو پورې مو پیره ټینګه کړه ، نو موږ د «نو وسی برسک» او سیدونکی و ، د هغه یوه کوچنۍ

عنوان درجاهای دیگری نیزبه این گروه داده شده است چنانچه میفرماید :

« یا ایها الذین امنوا کونوا انصار الله کما قال عیسی ابن مریم للحواریین من انصاری الی الله ، قال الحواریون نحن انصار الله ، فامنت طائفة من بنی اسرائیل وکفرت طائفة فایدنا الذین امنوا علی عدوهم فاصبحوا ظاهرین» (الصف ۱۴)

« ای کسانیکه ایمان آورده اید مددگار خداوند جل جلاله شوید (دین اورا یاری دهید) چنانچه عیسی پسر مریم به حواریون گفت : کیست مؤید من در راه خدا جل جلاله ؟ حواریون گفتند : ما انصار الله ایم ، بناءً ان بنی اسرائیل یک گروه ایمان آورد ، و گروه دیگری کافر گردید ، پس کسانیرا که ایمان آوردند ، بردشمنان شان نصرت دادیم وآنان غالب گردیدند » .

درجای دیگری میفرماید :

« ولینصرن الله من ینصره ان الله لقوی عزیز (الحج : ۴۰)

« وحتماً خداوند جل جلاله کسی را نصرت دهد که وی جل جلاله را یاری کند ویقیناً خداوند جل جلاله توانای غالب است » .

عدهٔ از مفسرین (انصار الله) را با اضافهٔ لفظ (دین) به انصار دین الله تعبیر کرده اند و استدلال می کنند که خداوند جل جلاله به نصرت کسی نیازمند نیست ولی عدهٔ ازمحققین ترجمه اصلی عنوان رابدون تزئید کلمهٔ دین ترجمه داده وگفته اند که این لقبی است که خداوند جل جلاله

شانتي لوړه وه ، چې عمر يې صرف څلور مياشتې دی ؛ دهغه تابوت مو په امبولانس کې کښود او د الوتکې په وسيله مو «مسکو» ته واړولو - د هغه په مړينه د پر افسوس دی مګر موږ څه کولای شو ؟

دلته موږ له دې مصيبت سره دچار يوو - ته پوهېږې چې د «کوچکوف» او «مائنخچتي» واړه بال-چې و هغه ښوول شوی و ، اما په څه شکل سره په خلاصيدو بريالی شو - په يوويشتم د مئ ټول يونټ د هغوی د موندلولو پاره لېږل شوی و ، چې بالآخره د «ناوې» په سيمه کې يې وموندل دوی هلې ځلې اغوستې وې ، د افغانانو له مخکولوڅخه وتل واقعاً خوش نصيبي ده - دا د پرون ورځې خبره ده ، چې «بتالن» ټول يونټ مرکز ته وغوښت ، کله چې دوی دواړه يې په دې حالت کې راوستل ، د دواړو لاسونه تړلي او لباس يې هم ځيري-ځيري و ، نو موږ ټولو د خوښۍ نارې پورته کړې او د هغوی لاسونه مو خوشې کړل ؛ دوی پوځي يونيفورم واغوست او د دوی شليدلې جامې مو په مرکز کې وسوځولې .

لنده دا چې هېڅ ټوکې نه دي - د فرقې حکام په پوځيانو کې د سپلين ساتلو له پاره قاطع کوښښ کوي ، نو موږ د پوځي د سپلين سرغړوونکي بيا نه شي راتلای ؛ له سرغړوونکو څخه زنداڼونه ډک دي .

«لينيا»

پاسنی

مست سخوندران

یو بزګر راته کیسه کوله ، ویل یې : زه د پالښ په ښه دولو لګیا وم چې کار مې خلاص شو او کاله ته راغلم ومې کتل چې زمونږ د یوې د غویې په ځای یوه جوړه مست سخوندي تړلې دي ، پلار مې وپوښت ، هغه راته وویل :

غوایې مې په د غو سخوندرانو بدل کړل ، دا به که خدای ګول وبره ښه جوړه شي .

ما ورته وویل : مونږ د یوې غویې ته ضرورت لرو سبا - بله ورځ به بیا پټې ته یوې باسو ، دا سخوندران به څه کوو ؟

پلار مې وویل : دا سخوندران به داسې ځکه درته واړوې ، چې ننداره به یې وکړې .

ما ورته وویل : څه پوهیږې ؟!

پلار مې وویل : د سخوندرانو خاوند یې د برتعریفونه راته وکړل .

ما ځغ په غاړه ورکښنود ، چې و ازمویل شي ، له بده مغه

دواړه پریږدتل .

پلار مې هم په خپله سهوه پوه شو، راته ویې ویل:
د دوی دې کور ډالۍ شي ، دومره تعریفونه یې راته وکړل
چې نه یې بخښې پرې وم واخیستم ، غوایې لا څه کوې چې څو
شلې سروپۍ مې هم سر وسکړې ، اوس یې څه چاره ده ؟

ما ژر یو- دوه تنه دکلي زلمي راسره مله کړل ، په
منډه - منډه کاږو چې غوایې راوګرځوو ، بښه و ، دپښو
کاږه یې نه وه وهلې ، سړي مو له غویو سره راوګرځول .

چې کلي ته راغلو د سخوندرانو خاوند ووویل : پلار دې
دغه دی ځانځ دی ، په خپله خوښه یې راسره معامله وکړه
که ما وسړته درواغ ویلي وي زه ملامت .

پلار مې وسړته ووویل : تا یې دومره ستاینه راته وکړه
چې زما دې بخښې سترګې رابټې کړې ، اوس چې مو څخ په
څټ وسکښود ، دواړه پریږدتل ، آخر سړي داسې کوي ؟

هغه ووویل : درته وایم چې ما درواغ نه دي ویلي
ما درته ویلي وو چې د بغ بغکو ، درمبارکو ،جنګرکو
او د خاك پاشکو هې بلا دي . اوس م وایم چې د قولبو
مې نه درته ویلی دي- نه وایم .

بالآخره د څو تنو منځکړو په فیصله له څه سروپو
وسړه شوو او معامله مو فسخ کړه .

← * * *

ـ وسان م د هغو سخوندرانو غوندې د رمبارکو، دیغ بغکو د خاك پاشکو او د جنګرکو هی بلا دي ، کار او مرسته مه ترې غواړئ ـ د سرپټوب ، انصاف ، ترحم او له بېرته پاته ولسونو سره د بې شایبې مرستې توقع مترې غلطه ده ـ د دوی راډیو کاني ، اخبارونه او نور د پروپېګنډې وسایل شپه ـ ورځ لګیا وي ، د دوی د دولت ستاینه کوي ، د دوی د رژیم مزیټونه ښېري ، د دوی د وړاندې تګ په کیسو نه مړیږي خو چې د امتحان ځغ ورواخلي پرې به وزې او غاړه به نه ورته ږدي ، دا به په خپلو کورنیو چارو کې مداخله کښي، په حقیقت کې دوی د دروغې تبلیغاتو ، د پوچو شعارونو، دافتراګانو او بالآخره د خونریزې او کشتار قهرمانان دي، یعني دیغ بغکو د رمبارکو ، د خاك پاشکو او جنګرکو پیاوړې دی ـ نه د قو لبو .

خو د سخوندرانو خاوند غوندې وړاندې ـ اعتراف م نه کوي .

زموږ د خلق او پرچم مست سخوندران هم په تجربې بښکاره شول ، چې نه د کار دي ـ نه د اداري نه د ولس له غمه مړه دي ـ نه د وطن د آبادۍ په راز خبر . د دوی درست کمال هغه ځانونه پرسول موقې ځنډول ، په دې بزخ پوچ او لایعني شعارونه وړ کول ، خپل او بل ته بد ویل او د هغه څو نامربوطو

جملو چې روښي جاسوسانو وړاندې کړې وې په دې مد او شد په ځای - بخایه مکرراً په ویناوو کې ځایول وو او بس ، یا د سخوندرانو د خاوند په قول د بغ بغکو د خاك ماشکو ، د زمبارکو او بلاکړه د جنګرکو هی بلا وو- نه د یوې او قولې .

ستون

اشک ها وخون ها

د ثور خونړی فاجعه په حقیقت کې د افغانستان د ټولو هغو هیوادونکي ویر پیلامه وه، چې د خپلې پېښې سره د افغانستان د ملت د ټولو هغو - زحمتکښانو د اوښکو چینې شوې او د کمونیزم او کمونستانو له وحشت سره د هغو زخمونو ویني بهیدل پیل شول او لا تراوسه دوام لري، دې انسان د ښځې ټراژیدی د هر افغان له پاره د اوښکو او وینو سوغات پرېښود او هر افغان ذکر او فکر اوښکې دي او وینې.

ښاغلي شاعران د ملت ستړکې او د ملت د زخمه آواز وې هغوی په خپلو اوږنیو شعرونو کې د خپل ولس د اوښکو او وینو عکاسي کوي او دا غمونه خپل لرونکې دنیا ته د شعر په ژبه څرګندوي او د تاریخ کرښې د هدې اوښکو او وینو په څاڅکو لیکي.

استاد خلیل الله «خلیلی» د افغانستان یوه پېژندل شوې ادبي څېره ده، دی د افغانستان یو د پاخه عمره شاعر دی او ده په خپل اوږده شوندۍ کې د ډېر ملي مصائب او شخصي

دردونه او غمونه لیدلي دي . په شعر کې يې د دې دردونو او مصائبو انعکاس له ورایه ښکاریږي او خصوصاً د ټولې له فاجعې سره چې د یوه مهاجر او آواره په صفت د ملکونو سرګردانۍ شوی دی ؛ د خپل ملت دا لوی مصیبت يې قدم په قدم ځوروي اوښکې پرې تویوي او وینې يې ژاړي .

" اشک ها و خون ها " د دې د شعرونو ویروستنۍ مجموعه ده چې زیاته برخه يې د هغې مصیبت د دوړې شعرونه دي چې په لوړ بلاغت او فصاحت او پخه ادبي ژبه د افغانستان د ملت دا لوی ویر انځوروي او اوښکې پرې تویوي :

بهار امسال می آید به چشم ما سراپا خون
زمین خون، آسمان خون، اختران خون، کوه و صحرا خون
دریغا گشته از دامان مادر تا به گورستان
جگر خون، سینه خون، دل خون، نگه خون، چشم بینا خون

دا د اوښکو او وینو سره د دوه واقعاً د ردونکي دي ، پام د ونکي ، احساس لرونکي او غیر وینو د ونکي . زموږ د یتیمانو د معصومو اوښکو او زموږ د سپیڅلو شهیدانو د پاکو وینو بڼه انځور او تصویر دی .

د استاد خلیلي د اشعارو دا مجموعه د ده د شعرونو دریمه لوبه مجموعه ده چې په اسلام آباد کې د ایران د اسلامي جمهوریت د فرهنګي رایزنۍ (مشاوریت) له خوا په ډېر ښکلي صحافت په ۲۱۷ مخونو کې په حروفي چاپ خپره شوې ده .

موږ په دې حال کې چې د استاد دا اوږدې جهادي شعرونه ستایو ، دوی ته له لوی خدای څخه صحت او عمر غواړو او د درد یدلي افغانان يې لوستونکو ته راښیو .

Monthly
SPEDE



VOL- 1 - No. 12
July : 1985

برای کسانی برگزیده است که بسوی عبادت وبندگی خداوند جل‌الجلاله می کنند و درین طریق سعی می ورزند چنانچه بمجاهدین راه خدا جل‌الجلال درجای دیگر بعنوان (جند الله) خطاب نموده است درحالیکه خداوند مالک الملک به جند و لشکر نیز ضرورتی ندارد .

خداوند جل‌الجلال در رابطه با تائید الهی از مؤمنان می فرماید :

«ان ینصرکم الله فلا غالب لکم وان یخذلکم فمن ذاالذی ینصرکم من بعده ، وعلی الله فلیتوکل المؤمنون» (آل عمران ۱۶۰)

«اگر خدا جل‌الجلال شما را تائید کند هیچکس برشما غالب نیست و اگر بی پروا بگذارد شما را ، پس کیست که شما را نصرت دهد بعد از وی (ج) ؟ ومؤمنان برخدا جل‌الجلال باید توکل کنند» .

عناصریکه به مفهوم واقعی کلمه ایمان دارند باید تنها به پروردگار شان تکیه کنند اتکاء و اتکال شان برچنین دیگری جز تائید الهی نباشد وباید مطمئن باشند که خدای خیرالناصرین جل‌الجلال ضامن پیروزی وغلبه آنان بردشمن است و اگر پروردگار مالک سرنوشت ، ان کسی تائید نکند وبوضع او اعتنائی ننماید ، چه کسی میتواند بحال سعادتش باشد . قرآن مجید دربارهٔ کسیکه تصور می کند : خدای نصیب درطریق ایمان از او تائید نخواهد کرد وپیروزی اش را تحقق نخواهد بخشید اودر نیمهٔ راه پس از مواجه شدن با دشواریها درپرتگاه یأس و نا امیدی سقوط نموده به استانهٔ دیگری پناه میبرد و بوسیلهٔ دیگری تکیه میکند ، وعلی مثال نهایت موزونی چنین اشاره میفرماید :

میاشتنی ادبی مجله

سپیدک



(۱۳)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا يُخۡرِجُهُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوۡرِ ؕ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اَوۡلِيٰٓـئُهُمُ الطَّاغُوۡتُ
يُخۡرِجُوۡنَهُمۡ مِّنَ النُّوۡرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓـئِكَ
اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ۞

سورة البقرة آيت (۲۵۷)

د دوتنې تصویر :

په «بلخ» کې د خواجه محمد - پارسا تاریخي جومات
چې د افغاني معمارۍ یوه غوره نمونه وه .

وجبه اشتراک سالانه :

در امریکا	۳۰	دالر
در اروپا	۲۵	〃
در پاکستان	۶۰	روپیه

شش ماهه :

نصف قیمت